


2
Copy
12
50
Z634

# د پښتونستان ملي بیرغ

د کابل مجلې محترم لوستونکي ددې ګڼې پرمخ باندې دپښتونستان نوی بیرغ وینئ، دابیرغ د قبایلو له خوا پښتو ټولنې ته د لاندینیو تشریحاتو سره رالیږل شوی دی، دابیرغ دپښتونستان دتیرا، دوزیرستان دګرویك او مهمندو دشورا ګانو له خوا منلی شوی دی، تشریحات ئې دادي:

## ۱ : — سور رنګ :

د سره رنګ معنی مونږ ته د پښتونستان د آزادۍ د ګټلو او ساتلو د پاره کښې دهمیشه دپاره دخپلو وینو تویولو ته دآمادګۍ درس را کوي.

## ۲ : — تور رنګ :

د بیرغ په منځ کښې توره پټۍ د اسلام د لومړیو وختو د جهاد د بیرغ (د اسلام) عقاب او د مکې شریفې د پوښ څخه — تبرکاً اقتباس شوې ده.

## ۳ : — غرونه :

د پښتونستان مملکت د هغو جګو غرونو نمایندګي کوي چه په سرئې واورې او په لمنو کښې ئې سره ګلونه دي، او تل آزاد وو، او آزاد به وي،

## ۴ : — د غرونو د پاسه نیم ختلی لمر :

د غرونو د پاسه نیم ختلی لمر مونږ ته راښئې چه د پښتونستان او پښتون ملت د سعادت، نیکمرغۍ او استقلال لمر را ختلی او د همیشه د پاره به د پښتني دنیا په آسمان کښې ختلی او ځلیدونکی وي،

کابل

٢٦٣-٢٦٤

(۲۰) کال دتور(۱-۱۵) ۱۳۲۹ داپریل(۲۲) دمی(۵) ۱۹۵۰ (۶۳-۶٤ گڼه)

# کابل

پښتو ادبی، اجتماعی، تاریخی مصوره مجله

ادبی، اجتماعی، تاریخی

# څلورنکی:

عبدالرؤف بېنوا


د صحافت مدیر: یارمحمد نظامی

پته، پښتو ټولنه، دابن سینا واټ
تلگرافی پته: کابل، پښتوټولنه


اشتراك

د کابل په ښار کښی: ۳۶ افغانی په ټولنه هیواد کښی ۴۰ افغانی
د باندی ملکونو کښی: ٤ داله دښوونځیو زده کوونکو ته ۱۸ افغانی.

دپښتو ټولنې له خوا نشرېږي

# ددې ګڼې ليك او ليكونكى



| ليك | ليكونكى | مخ |
|---|---|---|
| ځلمى پښتون ته | ښاغلى (بېنوا) | ۱ |
| څه غواړم ؟ | « (الفت) | ۳ |
| مونږ داغواړو | « (سيال) | ٤ |
| پښتون | « (كاكړ) | ٥ |
| نوې نغمه | « (زمريالى) | ۸ |
| مات مې كړه توره دديورند دافسانې رنګ | « (دردمند) | ۹ |
| جوړوو پښتونستان | « (سليمى) | ۱۰ |
| مړاوې غوټۍ دامېدنو دپښتون شوې تازه | « (هوسا) | ۱۱ |
| دننګ جذبه | « (شفيق) | ۱۳ |
| حق په توره واخلى ،نور غلطى انديښنې وينم | « (پكتيانى) | ۱٥ |
| رنګين لمسون | « (ننګرهارى) | ۱۷ |
| ملى اختر | « (بريان) | ۲۱ |
| له هاتفه آوازراغى سر راپورته كړه افغانه! | « (غمخور) | ۲٤ |
| مونږ څه ليدلى؟ | « (الفت) | ۲٥ |
| جوړ كړه نوبهار دازادۍ | « (زهير) | ۲٦ |
| وينې زرغونې دى خطاشوى نې ګلزار ندى | « (جرار) | ۲۷ |
| دامقام دلوى وحدت دى | « (روشن وردګ) | ۲۹ |
| پښتون خپل حق غواړى | « (پرهيز) | ۳۱ |
| سره بيرغونه پر تيرا وزيرستان رپيږى | « (ملبا) | ۳۳ |
| پښتونستان جوړوو | « (ستى) | « |
| دپښتون د آزادۍ غږ | « (صديقى) | ۳٥ |
| پيغام | « (جلالى) | ۳٦ |
| دپښتون قومى بهار | « (همدرد) | ٤۱ |
| سور بيرغ نى اوس رپيږى | « (صافى) | ٤۲ |
| پښتونستان جوړيږى | « (رښتين) | ٤۳ |
| ښپانى دپښتنو دارتقاءنن | « (قانع) | ٤٥ |
| ښه موقع ده اوس لالوړ دغه خپل شان كړه | « (ايوبى اراكوزى) | ٤٦ |
| دپښتونستان زبرى | « (مسكين) | ٤۸ |


دوهمه برخه په پښتونستان كې دباجوړ دادیبانو مشاعره


| ليك | ليكونكى | مخ |
|---|---|---|
| پښتونښتان دپښتون ژوندى خپل ژوندون لټوو | ښاغلى محمد شعيب جانصاحب | ٤۹ |
| « « « پښتانه ئى غواړى | « محمد انور (انور) | ٥۰ |
| داآزاد پښتونستان | « محمد شريف (شريف) | ٥۱ |
| تل خپل بيرغ دپښتون كور كښى په ځلاولري | « محمد ګلاب دچارمنګ | ٥۲ |
| هغه ويښ هغه زلمى هغه پښتون دى | « دشموزوملاصاحب | ٥۳ |
| مبارك دې شه پښتونه دابيرغ دى دپښتون | « فضل واحد دچارمنګ | « |
| پښتونه ويښ شه پښتنو له ګلستان جوړوو | « فضل رحمان دكاګه پانډ | ٥٤ |
| جوړوو پښتونستان پښتانه واړه | « عمادالدين دسره كمر | ٥٥ |
| قوم ته د پښتونستان د بيرغ تبريك | « نعمت اله دماموندو | ٥٦ |
| سيرة النبى (صلعم) | د « كشككى ترجمه | له ۸۱٦ نه تر ۸۲۳ پورى |
| عكسونه : ۹ قطعې | | |

# د پښتونستان دری نومیالی شخصیتونه

چه د دوی ټول ژوند د پښتنو د آزادۍ او پښتونستان د جوړولو پر خدمت کي تېرشویدی، او اوس هم د خپل همدې مقدس مقصد د پاره د پاکستان د ظالم حکومت د لاسه په جېل کي شپې ورځې تېروی.



فخر افغان خان عبدالغفار خان د خدائی خدمتگارانو مشرچه په سپینه ږیره د پاکستان په جېل کي مېچنی گرزوی



ښاغلی ننگیالی ډاکتر خانصاحب د خان عبدالغفار خان مشر ور ور



ښاغلی ننگیالی قاضی عطاالله خان د خدائی خدمتگارانو یو مهم لیډر

دوی وایی :

یا به دا بې ننگه ملك باغ عدن کړو یا به کړو د پښتنو کوڅې ویجاړې

# دپښتونستان مشاعره

د پښتونستان جوړول ، دپښتونستان ساتل ، دپښتونستان دپاره خدمت کول دهر ، پښتون اوهري پښتني چه پههرځای کیوي قومي اووجداني اوایماني وظیفه ده داخدمت که پهخوله وي . کهپهقلم که ، په لاس اویاپهپیسو خود هر پښتون او پښتني چههرځهدپښتونستان دقیام اوآزادۍ اولوړوالي دپاره دلاسه کیږي باید پهدې مقدسه لارکې ونهسپموي . نوځکه پښتو ټولنې دپښتونستان دپاره قلمي خدمت پخپله غاړه اخیستي دي اوپه دې لاره کې دخپله توانه سرهسم زیار باسي دادې دنورو خدمتونو پهترڅ کیئې په دې ورځوکې دپښتونستان دپاره یوه مخصوصه مشاعره وکړهچهدا مشاعره پهکابل راډیو کې ولوستله شوه او اوسئې دکابل دمجلې محترمو لوستونکو ته وړاندې کوو اوپهکومه سلسلهچهپهراډیو کېلوستلې شوې ده پههمغهترتیب ئې شعرونهچاپوو ګوندې دپښتونستان دپاره یووړوکي خدمت وباله شي (پښتو ټولنه)

# ځلمي پښتون ته

ښاغلی بېنوا

یاانجام شه یاآغاز شه — حقیقت شهیامجاز شه

❀ ❀ ❀

طبیعت د نغمې ساز شه — یاپخپله نغمه ساز شه

❀ ❀ ❀

یافطرت سره همراز شه — دقدرت دبال پرواز شه

❀ ❀ ❀

یاقدسي مرغه آوازشه — یاته خپلهقدسي باز شه

❀ ❀ ❀

دآسمان دښکلیو نازشه — یاد ځمکې دمخ راز شه

❀ ❀ ❀

مشه مشه ګورته مشه

تش خیالي بوچه سودا — یاد اوکړه یادا

یا د خپل حیات تقدیر شه — یا په فکر د تدبیر شه

د زاړه ژوندون په ویر شه — یا خپل نوي ژوند ته ځیر شه

یا په بل تأثیر تغیر شه — یا په خپله ټول تأثیر شه

یا د نورو دستگیر شه — یا خو ته د نورو پیر شه

مقتدي د خپل ضمیر شه — یا د بل چا په تکبیر شه

دا هستي و اده نیستي ده

بې جنبشه بې صدا — یا دا وکړه یا دا

یا آسمان د هستي رنگ کړه — یا دنیا جوړه د ننگ کړه

یا ژوند خوله کې د نهنگ کړه — یا د ژوند سره جنگ کړه

یا دښمن په وینو رنگ کړه — یا بدل د وینو رنگ کړه

یا جال لیرې د فرنگ کړه — یا و مرگ ته سر پسنگ کړه

یا خاموشه زوړ آهنگ کړه — یا د نوي نغمې ترنگ کړه

یا خه یا خه دا ژوند مرگ دی

چه نه هغه کړې نه دا — یا دا وکړه یا دا

یا آسمان د سوځندا ور شه — پر غلیم باندې نسکور شه

یا خبانده سیند په شور شه — د خونړي سیلاب په زور شه

پښتونخوا له غرونو خپور شه — دا تلك سیلابي ورور شه

دښمن په کلای کور شه — له پښتون نه ځار هرلور شه

❀ ❀ ❀

یا دتول او لس پیغور شه — مړ کړه ځان په تور گور شه

❀ ❀ ❀

وایه وایه راته وایه

چه ته څه تمه ئی پیدا — هادا وکړه بادا!

❀ ❀ ❀

یا پښتون شه ځان دځان کړه — ځانته بیل جهان ودان کړه

❀ ❀ ❀

سره گډه دازوړ جهان کړه — بله ځمکه بل آسمان کړه

❀ ❀ ❀

نوی غر نوی دامان کړه — نوی ژوند د کهستان کړه

❀ ❀ ❀

نوعزم نمایان کړه — نیست نابود دی دښمنان کړه

❀ ❀ ❀

یاخو تینگ پښتونستان کړه — یانوم ورك ددرست افغان کړه

❀ ❀ ❀

یاژوندون دی یامرگی دی

خو که نن دی که سبا — یادا وکړه یادا

❀ ❀ ❀

## څه غواړم

ښاغلی گل پاچا (الفت)

نه سره او سپین نه ښې ماڼۍ نه مهرویان غواړمه — داحمدشاه شیرشاه، میرویس غوندې افغان غواړمه

زه دې جهان کښې نه قصرونه نه باغونه غواړم — چه دپښتون حقوق منی، هغه جهان غواړمه

نوزه بې برخې خوار وزار پښتون لیدلی نشم — دغه شان نه بل شان دورونه د آسمان غواړمه

ځانته څه نه غواړم حرام شه که به هیڅ وغواړم — دقام دپاره یو آزاد پښتونستان غواړمه

چه ئی لهویرې فرعونان بد بد خوبونه وینی — له پښتنو میندونه هسی ما شومان غواړمه

دتیراغرو کښې تجلی د کوه طور چه گورې — صاحب نظره پښتانه د قام مشران غواړمه

چه مغلو اله نه منی او رنګ غلام کښی خپل     مومندو تاسې نه حمید (۱) عبدالرحمان غواړمه
چه پښتنو ته دغیرت او ننګ سند ری وائی     زه له ختکو نه هماغه خوشحال خان غواړمه
د پښتنو لـه سر دا رانو وزیرانو ځنـې     زه فتح خان او ایوب خان یا اکبر خان غواړمه
چه طلسمونه د فرنګ سرحد ظلم کړی مات     هغه قوت هغه طاقت هغـه ایمان غواړمه
د کابل سیند او له هلمند او اباسینده ځنې     د پښتنو غلیمان غرق په دغه آن غواړمه
واړه سوالونه نه کوم له لویه خدا یه ځنې     له لویه خدایه لوی پښتون او لوی افغان غواړمه

❀ ❀ ❀

## مونږ داغواړو

ښاغلی میراجان «سیال»

مونږ پښتانه نه خپل مستقل پښتونستان غواړو     په پښتونخوا کې د پښتون او چت نشان غواړو
مسلمانان یو پښتانه بل ملیت نـه منـو     د پنجابیانو باداری سپـکه ذلت نه منو
په پښتنو د پردو خلـکو حکومت نه منـو     د غلامانو غلامی طوق لعنت نـه منـو
مونږ آزادیو پیدا شوی آزادی زمونږ شعار دی     دحق په لیار کښې قربانی د پښتون کار دی
مونږ د چنګېزاو د تیمور سره جګړی کړی دی     دحق دپاره مو سکندر سره ډبرې کړی دی
مونږ دحق په دښمنانو تل داړې کړی دی     سر غوڅول مو د باطل تل په چړې کړی دی
مونږ دخیبر درې سرې کړی دښمنانو باندی     په ثوڅو واره د اسلام په غلیمانو باندی
مونږ د اسلام په لیار کښې ډېر ډېر خدمتونه کړی     مونږ د پنجاب په بتخانو کښې اذانونه کړی
مونږ د توحید په لیار کې هر وخت جهادونه کړی     دهر باطل سره زمونږ ځلمو جنګونه کړی
زمونږ تـکبیر باندی مات شوی ډېر بتان دی     دحق په لیار کښې قربان شوی مو زلمیان دی
مونږه داغونه په زړه اینښی دا و رنګ دی     له مغلوالی تل زمونږ زلمی په جنګ دی
توری و هلی پښتنو د قام په ننګ دی     غرونه رغونه ئې سره کړی په پرنګ دی
په زړه مو ښکل دی کار نامی دمیا روښان.     د آزادۍ درس دی را کړی خوشحالخان
مونږ په دنیا کې ښه ژوندون د شرافت غواړو     له نورو بیل ځانته سوچه خپل ملیت غواړو

---

(۱) چه له خنګه مې دلبر په لاس کښې جام دی     تن اورنګ د زمانې زما غلام دی (رحمان بابا)
که مې تېره مغلو اله درڅـېـب کـړه     زه به نـه یمه را و ړی پښتنـی ( حمیـد )

دزور او ظلم خاتمه مونږ عدالت غواړو
په انسانانو کې ربښتیا انسانیت غواړو

دانصاف له منکر وسره پیکار کوو مونږ
دعدالت په سمه لیار باندی رفتار کوو مونږ

مونږ پښتانه وخپل مرکز ته تولیدل غواړو
وزې او تیزی د خپل قام مرو بدل غواړو

دالوخ لغړ نیستی وهلی پتبدل غواړو
په سرې توب په دې دنیا کښې او سپدل غواړو

مونږ په دنیا کښې دخپل قام اعلی نظام جوړوو
دژوند قانون به مطابق مونږ داسلام جوړوو

مونږ د انصاف په لیاره څو ظالمان نه یو
زور او قهری نکړو په چا جابران نه یو

مونږه اصیل یو ښتانه غلامان نه یو
چه څوك به مونږه کړی محکوم داسی آسانه یو

د چل فریب او استبداد واړه بتان ماتوو
دحق په توره به لښکر مونږ دشیطان ماتوو

❁ ❁ ❁

# پښتون

ښ غنی کاکړ

په لویو غرو کې گرزی نې وحدت شته نه الفت شته
نې کوم مرکزیت شته
نې ځای د جمعیت شته

زرو کلونه تیر شو له ملت نه شو، تری ساز
ناخې دبل په ساز
بندی دیء دغره باز

مغروره دیء په دې چه زه آزاد تور زن زلمی یم
بیحده ننگیالی یم
قوموکی زمری یم

خبر ندیء په دې چه دی آله دبل دلاس دیء
دی ښکلی نیلی آس دی
خو سپور پرده بل پاس دی

نه ځانله دی مرکزلری، نې ببل مدینت شته
نې ځای دتقافت شته
نې نوم د ملیت شته

کوم وخت پرده جاری وی دمغولو تاړاکونه
چور و نه چپاو و نه
تالا و الا ئې خو نه

یادا پرې حکومت کړی یادا بل پر غالب کیږی
په ژبو ئې و ئیږی
پښتو ئې تالا کیږی

نن‌دی په‌ملیونونو پښتنا نه په‌پښتو نخوا کی
خو ژوند کړی په بېدیا کی
اخته دی په بلا کی

نه‌مشرئې معلوم نه‌ئې اختیاررواك دځان‌شته
نی زور شته‌نه‌ئې توان شته
نې قدر دانسان شته

په‌غرو کی اخ لغړدی له کوز که ترچترا له
نه کور لری نه ځاله
قادره ذوالجلاله!

داولی لویه خدایه‌هسی خوارذلیل پیداشوم؟
په غم په واویلا شوم؟
زه تل تاراج تالا شوم؟

داولی لویه خدایه! خوپښتون یمه انسان یم
سپیڅلی مسلمان یم
ددین دی نگهبان یم

تر کله به گولۍ دپردو اوری پرما با ندې؟
شلوی می دزړه مراندی
ظلمونه پرما کاندی

تر کله به‌نه حق‌نه عدالت راسره کېږی؟
دحق پرې به شلېږی
پردی می بادار پېږی

تر کله به‌له شرقه یاله غربه پرما اوروی؟
خراب به می‌خپل کور وی
دښمن به راته ورور وی؟

تر کله‌به‌دازما ښکلی وطن‌په‌وینو سوروی
پامال به‌می کلتور وی
غمخور به را نه دوروی؟

تر کله به‌له خپله حکو مته‌زه محروم‌یم؟
تالا به تل دگروم یم؟
په گېډه به هم شوم یم؟

ماځه کړی‌دی‌خدایه زه‌خوهم‌یولوی ملت‌یم
دارا دهر صفت یم
قابل هم درفعت یم

ثروت‌،ژبه‌، کلتورمی‌تول‌دبل په‌لاس تالاشوه
پاما له پښتو نخوا شوه
تیارمی دا رڼا شوه

له توری نه می تل ګټی فایدی پردودی وډی

زلمو و یښی توی کړی
خو بل ئې ګټی وډی

زه تل توری وهم سربازی کړم دبل دپاره

بیا ئې می بل په لاره
زه څه یم کرد ګاره ؟

یا مړ می که خالقه ! چه بندی دتورلحد شم

له بد و نه هم بد شم
له خاورو سره ګډ شم

یاژوندد عزت را که چه خپل سیال غوندی خپلواك شم

لایق دد را نه ژواك شم
په پوهه په ادراك شم

نور نه غوارم چه زه به تل تر تل ذری یم

بې برخی بې بهری یم
تو تې توتې به پری یم

نور نه غوارم چه ژبه او کلتور می بل ته خواروی

اخته په ننګ وعاروی
دتوروپری ناتاروی

نور نه غوارم چه زه به ئې ګټمه بل بې خورینه

دا زما مړی ید غلمینه
زه خورم به د زړه وینه

دا زما وطن به زماوی زه پښتون به ئې بادارېم

مشغول به پخپل کاریم
د خپل ګلی سردار یم

دا ښکلې مځکه زماده، له اتکه تر هراته

له پلار ددہ را پاته
د نیا ته ده دا زیاته

دامځکه بل خاوند نلری زمادنیکه کوردیٔ

دبیت دغر غنبت ګور دیٔ
سا تل ئې پر ما پور دیٔ

داواوره اې جهانه ! چه پښتون یو بیل ملت دی

مشهور په شهامت دیٔ
همدغه ئې نهضت دیٔ

یا مری به، یا به یوقوی ملت له ده نه سازشی

پر لوړه بې پرواز شی
له سیاله به همباز شی

## ( نوی نغمه )

ښاغلی امین الله « زمریالی »

دا نوی نغمه ده که بدل د دنیا رنګ سو      پوه د سوړ شپېلۍ سوه که خام سحر د فرنګ سو
جوړ سو پاکستان چه د نا پاک وبل نیرنګ سو      غم ئې پر کور جوړ سو د پښتون د توری شرنګ سو
پورته ئې بیرغ سو له غیرته ئې سور رنګ سو

بیرغ د پښتنو سو لو او چت پر لوړو غرو      د وی ساتی به بیرغ پخپلو وینو په سرو
آزاد به خپل ژوندون کړی تل په مثل د پلرو      رقیبه ! ته ځان ژغوره دا انګړ دی د زمرو
ګیدړ که هر څو رنګ سی کله سیال د پلنګ سو

پوه سه چادوګره ! ستا و سحر ته موسی لرو      که د جادو جوړ اژدهار کړی موږ عصا لرو
که بولهب او ابوجهل سی مصطفی لرو      و منکرانو ته پلاس ید بیضا لرو
فرعون چه فرعونی کړه پای ئې غرق په بدرنګ سو

اسلام اسلام چه وائی اسلام نه دی په دی شان      دا زغ د جرس نه دی رهبر نه سی د کاروان
استاد دی لاو نکړل چه تابع کړی دا زمریان      سل کال ئې دا نغمه وه سو د ئې نه و بی له زیان
نوی آهنګ زده کړه اوس باطل دی زوړ آهنګ سو

په خوله به کلمه وه د لارنس په زړه ملعون      کعبه دا سلام ولاړه چه اسلام ئې کړ مفتون
اخته په غلامی سو له تول اسلام خوار او زبون      دا زوړ منتر چه لولې اثر نکړی پر پښتون
معلوم ئې چو ذری چه ستا پیر لارنس ملنګ سو

آزاد ئې ای پښتونه غلام نه سې د غلام      دا کار به هغه څوك کړی چه نه ننګ لری نه نام
هر څوك چه ډوډۍ د غېب سې هغه نه دی پښتون قام      سر ژر ته ځنی پری کړه ای پښتونه په صمصام
هغه چه خر څوی وطن او قوم هابې ننګ سو

پاڅه ای پښتونه نن ته نوی جهان ساز کړه      خیری کړه پرده د غماز انو لڅ ئې راز کړه
زوړ طلسم مات سو دا کار ګه دی ځان شهباز کړه
اوس زمان را غلی د شیر شاه دوران اغاز کړه
سا ته خپل واکی دی که په صلح که په جنګ سو



دا د پښتونستان د پښتنو یوه ډله ده ، دوی د خپلو شهیدانو پښتنو ورونو خون اخلی ،
یا به مړه شی یا به انتقام واخلی ، یا به محوه شی یا به پښتونستان جوړ کړی ! !



یا به کړو جوړ پښتونستان پښتنو ژوند به کوو
یا به له خپله لاسه ځانته گورستان جوړ وو



د پښتونستان ځلمی دخپل مټ او خپلې وسلې پهزور د پښتونستان آزادی گټی



ننگیالی پښتانه خپل گران پښتونستان داسې گټی

## مات می کړ په توره د «دیورند» دافسانې رنګ

ښاغلی (دردمند)

نشی بدلولی پاکستان دزمانې رنګ
ونیم په پښتون کښې نن تازه د یارانی رنګ

مونږ په حریت باندیور کړې قربانی د سر
بیا ښه یم د ښمن ته د همدغه ښبانې رنګ

توره ته چلیږی د فرنګ پولټکیا لی په شرق
مات می کړ په توره د «دیورند» دافسانې رنګ

سور بیرغ ولاړ دی سور افق ئې سلامی کوی
ښیی پښتنوته دراتلونکی ژوند صحنې رنګ

پاخیږ دخیبر پهلوانانو چو دریاب لیری کړیء
لواړ کی ته غوندیږیء چه بدل کړو د تاڼې رنګ

هله یوسف زیه که ملی وحدت رښتیا غواړې
ورك په ملکند کړه د پرنګد کارخانې رنګ

یوه ناره تکبیرو کړیء نن بیا د اشنغر ځلمو
ژوند به هله مومیء چه کړیء مات دجیلخانې رنګ

تاسې ته معلوم دی دبنګال او کراچی تګان
مه پریږدیء اولاد ته په وطن کښې دطعنې رنګ

بیا دپښبور په شهید ګنج کښې مېله جوړه کړیء
جوړ به سرخپوشان کړیء دزړې قیصه‌خانې رنګ

تللی جیلخانې ته پاچا خان په آزادۍ پسې
مات کړیء پښتنو دپرنګیانو دآنې رنګ

څه شو لومومند ، اوترکانی او ملېزی دسیند
دام کښې پرنګی دی بدل کړی د دانې رنګ

راشئ اې خټکو ، افرید یو وخت د توري دی
ورك کړئ له خپل منځه د ګوندی نفاق بهاني رنګ
ستاسي د پښتو پښتونستان په انتظار یو موږ
ننګ د پښتنوالی وښوده د اعاني رنګ
واورئ د «دردمند» نه د فضا په موج کښي د انغمه
ویښو شاعرانو ! کړئ تازه د ترانې رنګ

❀ ❀ ❀

## جوړوو پښتونستان

ښاغلی (سلیمی)

دا د هر پښتون او آزادی          دا د هر پښتون اعلان
جوړوو پښتونستان          جوړوو پښتونستان
دا څه غیر دیو کس نه دی          دا پیمان د هر پښتون دی
دا د وړو کیو هوس نه دی          نه د بل پر دی لمسون دی
دا د شل ملیو نه قوم          یو تمیم او یو تړون دی
دا دی هوډ د پښتنوالی          د پښتو دغه قانون دی
یا به وژنو تول ځانونه          یا به وژنو د ښمنان
جوړوو پښتونستان          جوړوو پښتونستان
د تیرا په جنګو غرو کښی          د خیبر ښکلیو دړو کښی
په ګرو یك او با جوړ کښی          جنګ شول ښکلی بیر غونه
جرګی جوړی د وحدت شوی          تیږی کیښوی شوی درو غونه
د وحدت منری تیګیږی          پرېږد د خپل اختلافونه
دا د تولو دی مرام          دا سی عهد کړی ځلمیان
جوړوو پښتونستان          هم ستا تو پښتونستان
د پښتون دغه فطرت دی          آزاد او سه آزاد مړ شه
یا د مځکې زړه ته ننوت شه          یا سیالانو کښی سرلوړ شه

یا د ننګ په لار کښی ومره　　شهیدا دت به دي نصیب شی
یا دښمن په وینو رنګ کړه　　د تاریخ د فخر و نه شه
دهمدي قانون په حکم　　کوو دا ر نګه اعلان
جوړ د و و پښتونستان　　جوړ دوو پښتونستان
یا به ټول مرو په دی لار کښی　　بیا یلو و به خپل سرونه
یا کټو به حریت خپل　　خپل به آخلو ټول حقونه
یا له خپل ښیا ئسته ملکه　　ورکوو به د ښمنان
خپل ناموس او ننګ به ساتو　　کړو به ټول آزاد ژوندون
مړ بی توب به قبول نه کړو　　سراو مال به کړو قربان
جوړ د و و پښتونستان　　جوړ دوو پښتونستان
مدا رې د د ښمنانو　　مونږ نه شی غولولی
تورې تر بې دا غیا رو　　مونږ نه شی دارولی
د غیرت او ننګ په لار کښی　　مونږ له هیچا نه کم نه یو
نجا وز د هیڅ یو قوم　　نه زغمو نه مو زغملی
آزادی دملك موحق دی　　په قانون دیاك قرآن
جوړ دوو پښتونستان　　جوړ دوو پښتونستان

❀ ❀ ❀

## مړاوې غوټۍ دامیدونو دپښتون شوې تازه

ښاغلی محب الرحمن ( هوسا )

---

سحر سبا شو تیاره لاړله رڼا وخته　　دآزادۍ رڼا به توله پښتونخوا وخته

مړاوې غوټۍ دامید ونو دپښتون شوې تازه

ښې شپې اوورځې ئی دعصر په سمون شوې تازه

په آزادۍ ئی ښې واده دژوندون شوې تازه

په خپل ملی وحدت ئی جوړ د سمسور بهار کړلو خپل　　مین بلبل ته ئی د ګلو بڼ تیار کړلو خپل

خوږې وږمې دآزادۍ دی چه چلیږی دا اوس

که د پښتون دژوندانه کاروان بار بیږی دا اوس

د کاروان کوچ جرس په ښه آواز غږیږی دا اوس

لهننګه‌ډك دننګیالی پښتون آواز اورمه　　که‌دآزادژوندون نغمې اوښکلی ساز اورمه

په‌لوړ همت پښتانه‌جوړ پښتونستان به کړی خپل
خړ ګنبد به‌بیادنیاته‌نوم اوهم نشان به کړی خپل
دنوی‌ژوند جوړ یو آزاد بل یوجهان به کړی خپل

ځانله ټولنه دسوچه پښتون په نوم‌جوړه‌وی　　دسعا دت ژوندون په‌عصر داتوم جوړه وی

داړی بری پښتو نخوا پښتانه ټول پـه مینه
په خپلواکی اوآزادی خپلی خوښې کوینه
د خپلی تېری ، آزا دی دنیا تـه جار وهینه

پوخپلوسیمو کې دخپلواکی جشنونه کوی　　اتڼ په‌دې ملی اختر ځلمیان او نجونه‌کوی
په‌پښتونخوا کی پښتانه‌ځای په ځای‌غونډه کوی
لوی او واړه ځای رسول ور ته په منډه کوی
که په لاس ور شی دهیواد په غلیم منډه کوی

په‌لوړ آواز داتفاق خوازه زغو ته راځی　　د پښتنو په منډه منډه ور ته زړوته را ځی
خپلوروستنی نسل ته‌لوړ نوم اونشان پریدی‌دوی
آزادژوندون ئی دخپلواك په‌دې جهان پریدی‌دوی
سم کړ نلارورته دشپوور ځوروښان پریدی دوی

دپښتنی ژوندبل جهان دآزادی‌ورسپاری　　دلوی پښتون بختورژوندك دښادی‌ورسپاری
دخپلو چار ووا کې دوې پخپله تینګی سا تی
ځکه چه رب ور کړی ښه اهلیت دوی ته ذاتی
خپل کسات آخلی که‌پرې ځوك‌و که‌یولږ څه‌زیاتی

دپرمخ تګ‌ددغی لارې خنډوخارور کوی　　دخپل راتلونکی وخت دپاره‌مودی مارور کوی
ملی بهار ئی اوس په لوی پښتون راغلی دی نن
جوړ ئی په بل اندا ز ملی بزم نما ښکلی دی نن
د دې بهار په راتلو خوښ هر یو ښا غلی دی نن

د آزادۍ په ګل مین بلبلان او س کړی چغار ــ ځکه دغیر وغما زنښته دی په دوی تور خه کار
دپښتنو دپښتو نوا لی بین سمسور و ینمه
د سر درو د شنو طوطیا نو په کی شور و ینمه
مست دوطن اوکام په مینه هر یوورور وینمه
په سره بیرغ د پښتنو یو عالم زندونه زانګی ــ لکه په بوټی د ګلاب چه سره ګلونه زانګی
تر قیامته دې ژ وندی پښتو نستا ن وی ربه
که څوک ئی بدغواړی اخته دی په ځان وی ربه
دد ننګیالی پښتا نه نوم دی ښه روښان وی ربه
چه څو دنیاوی پښتانه درنه «هوسا» غواړمه ــ غلیم ئی ډوب لکه فرعون دموسی غواړمه

❀ ❀ ❀

## د ننګ جذ به

ښاغلی شفیق

نقش مې دتوری خاطرات دی ددفتر په مخ ــ خاندی مې بر ښندا دسپینی توری دسحر په مخ
تیت شم، کله جګ شم لکه موج دسمندر په مخ ــ نه پر یدمه تیری د ننګ ځای کې دخنجر په مخ
روز دی امو خته دحواد ثو په طوفان یمه
زه دژوند په کار کې مرنی دټول جهان یمه
زه هغه سرباز یمه چه لوبې په خپل سر کوم ــ کار د خپل تبر سره دتیګو د سنګر کوم
راچه ځای د ننګ شی حمله آن په سکندر کوم ــ نه چه چوا ړیه ستا دانګ ځنی حذر کوم
پاکه پښتنوا له سمه لارده پری روان یمه
ځکه چه افغان یمه او ځکه چه افغان یمه
و ګوری دې غر ونو ته په دی کی دی وطن زما ــ داد قومی مینی دلعلو نو دی مخزن زما
جنګ دآزادۍ له تا وله سره دی کفن زما ــ سیمی له که رامې شی تباه به شی دښمن زما
واخلیء دهوا امواجو یوسیء دا پیغام زما
ووا ئی غلیم ته ته طاقت لری د لام زما ؟
زه دآزا دیء دشمعی اورته پروا نه یمه ــ زده یمه تاریخ ته خو ند وره افسا نه یمه
تل د زما نې د سمندر کې دردا نه یمه ــ موج مې جذبی وهی یوسیند بیکرا نه یمه
داغ دبې ننګی په درنه زړلې خیبره کړم
ستا دآزادۍ داختر میاشت به رادبره کړم

زه د نوي عصر ننداره يم په څوالي اوس　　نه شي چودري تګان په چلمې غولولی اوس
ستا د ملک حال عالمه اشنا خبر شولی اوس　　خپل پښتونستان په خپل همت شم جوړولی اوس

نور يمه د سر نه په ناموس او ننګ فدا يمه
داغ د غلامۍ نه کوم کړ که ازاد پايمه

ووې د سحر په ترانو کې بلبلانو نن　　وخت د امتحان د سر او روح دی افغانانو نن
وکړې د پښتون په تقدير لوبې دښمنانو نن　　هلئ! پرې وړېږغلئ ای دروه د غرو زمريانو نن

خلاص کړئ پښتانه د پرنګي د غلامانو نه
هغه چه حقوق د ژوندون اخلي انسانانو نه

نه ورځو بېځايه په چا دادې عدالت زمونږ　　نه شي بادارې د چا منلی سياست زمونږ
چېرته مغلوا له چېرته له وړ عالي همت زمونږ　　پاک زمونږ ضمير دی او سپېڅلی دی فطرت زمونږ

يا به د همت په توره دا پښتونستان کړو جوړ
يا به پښتونخوا نه هم د مړو ګورستان کړو جوړ

خو ز پښتونستان له وېنې ځلمونه به لښکر کړو جوړ　　راوړي چه زما د قوم تيارې له به سحر کړو جوړ
وائي مې د ننګ جذبې چه مونږ زه به محشر کړو جوړ　　هغه ز د پښتون له به د ژوندنوی دفتر کړو جوړ

ګردشکاري طوفان نه د همت زمونږ پنجاب او نور
تندر که عدیءشی چوالی او چودېږی په کور

منلي مونږ ويستلي دي د غرب استعمار چيانو نه　　کله مونږ وېږو چودريانو چوالديانو نه
ای د بل غلامه! خبر نه ئې سربازانو نه ؟!　　وهه دي په ځان شه چه لاس نه اخلي افغانانو نه

شيخ د استعمار مونږ به توبه باندې سر کړي دي
غرب مو د پښتون د توری درز نه خبر کړي دی

زه چه آس مې پوره د همت کړم د ميدان په مخ　　شخړه د هيبت زما شي پنده د آسمان په مخ
سيند د پښتني جذبو مې يوسي پاکستان په مخ　　تل دې وي ژوندی آزاد پښتون پښتونستان په مخ

زه لکه پتنګ يم آزادي که شي دا ورلمبه
ږدې پېژنده غليمه دامې وه «د ننګ جذبه»

## حق په تو ره وا خلی نور غاطی اند یښی و یښم

ښاغلی نیك محمد « پـکـتیانی »

را غی پسر لی بیا بـه د گـلو ښی غنـچی و یـښم
سری په منځ کښی توری دریدی بـه بیا جنډی و یـښم
بیا په غرو رغو کښی دپښتون قوم آزا نـګی ویښم
آخ، داستعمـار بـه لـه ژړا نه ستر ګی سـر ې ویـښم

❀ ❀ ❀

داده پښتون خوا ډیر پرې تیر شوی نا تا رونـه دی
دې فضا کښی تیت دقـا فلـو نه ډیر ګر دو نـه دی
نن دی کیله پـا تـی که را غلی لـه پـر و نـه دی
اوس ئی خا طرا تو نـه را پـا تـی څو کیسی ویـښم

❀ ❀ ❀

دا هغه پښتون دی ز خمی کـړی سـکندر دی دوی
چین نه ئـی را وستـی دبند یـا نو لوی لښکر دی دوی
واړه ئی نا کـام کړی کـه سا مان او که چندر دی دوی
هوش کړه! تیت ئی مه بوله دننګ د کی ځیری ویښم

❀ ❀ ❀

دا هغه پښتون دی داغ ئی ایښی داو رنګ ه زړه
نه تنهـا مغل چه هـم ئی ایـښی دفر نـګ پـه زړه
چا چه نیت بد کړی تپئی وړی رنـګ رنـګ په زړه
پام کړیء چو دریـا نو چه په ستر ګو مو پردی ویـښم

❀ ❀ ❀

دا هغه پښتون دی چه ئـی کړ ی یر غلو نـه دی
ډیـر ئـی نسـکور کړی دپر دیو بیر غـو نـه دی
زړه چوی له هیبته دومره خستی هـم تـاختو نه دی
مخ چه په کوم لـور کـاد دښمن ورا نی میری ویـښـم

واوره نواب زاده ! دا هغه دی بت شکن پښتون
دا دی دمیر ویس او دمحمود لښکر تور زن پښتون
دا دی دغور یانو ، احمد شاه تول صف شکن پښتون
تاچه سپك نیت کړی اخیر خوله کښی دی ایری وینم

* * *

تا په تاج قسم خوړلی بند دبل په لومه ئی
ته د آزا دیړ له ښه نعمت څخه محروم ئی
ای چودری نوابه ! دمسلم دښمن ترکومه ئی
پرېږه ده مداریړ چه مونقشی نوری درستې وینم

* * *

تا د بل په لمسه کړی په مکه کښی یرغلو نه دی
ستاسی په ګولیو دتړ کانو سوری زړو نه دی
ستاسی له کردار ه دا سلام مړاوی ګلو نه دی
شپی په میخانه کی مست دورځی دی سجدی وینم

* * *

تول کړه ژر درتول کړه دتګیړ مداریړ دام دی خپل
سینه نه نور را کښی نږدی دی خوا پوشه یا ګام دی خپل
ته دبنګالی ئې ښه دی و پیژنه نام دی خپل
آخ تف می راډیرشی ، پښتون خوا کښی موخیری وینم!!

* * *

پور ته پښتنو شیء ځان جوړ پښتونستان کړی ژر
صف دحر ملتو دد نیا کښی لوړ نشان کړی ژر
و شلوی دمکر دام ، ورمات ئی نوردندان کړیء ژر
ولی قرار ناست ئی ، کوم هنتر دچا بنیری وینم

* * *

وا خلیء دخپل مت په زور خپل حقمت خومومات ندی
شل دوه ویشت ملیونه دپښتون تبر میراث نه دی

وخت دی مسا عد نور پکښې ډیل هم څه مسلات ندی
حق په تو ره وا خلیء نور غلطی اند یښنی و ینم

❀ ❀ ❀

تل خپل حق پښتون آخلی هرچا نه د خنجر په زور
نه چه عریضی، عذرو خوا هی کړی د ما ستر په زور
مر گ شرعی روا دی، که دی راشی غل غدو په کور
غوخ ئی کړیء باد رنگ په دود توري مو تیر ي وینم

❀ ❀ ❀

نوی راغی کال . نوی آر زو، نوی کارو نه دی
نوی تحو ل نوی قیصی نوی شعر و نه دی
زه یم « پکتیا ئی » پښتون دا عزم دا عهد و نه دی
که جوړ پښتو نستان نشو نو بیا لحد خخی وینم

❀ ❀ ❀

## رنگین لمسون

ښاغلی محمد گلاب « ننگرهاری »

نندارتون کښې د قدرت چه — یو بدیع زه را پیدا شوم
هنگامې واړه سری شوې — د بازار زه تماشا شوم
لویء نه لویء طاقت په مخکښې — لکه ابر د بلا شوم
چه فرعون به ؤ چیر ته — زه هغه لره موسی شوم

زه دهر غاور د ستر گو شیش له ځلنده بر ښنا شوم
یو مبطل الکون ضد زه هر یو ضد لره پیدا شوم

دنیستۍ خوب نه چه وینښ شوم — ما په ستر گو جهان ولید
ما په څریکو د خواهش کښې — د مې زور ته میلان ولید
زه چه کوم میدان ته کوز شوم — تش مې هغه میدان ولید
ښکته پورته انگولا کښې — ما له درده سوران ولید

حوادث چه زمانې څه را پیدا کړلو جولان له
همگې په ستنه لاړل په زاری عجز امان له

ما چه تو دا سوبلی وکړو — د اسمان زده شو تنها کې
کهکشان ئې را خر گند کړو — د بر ښنا مسکه خندا کې
ما چه خرق دعادت وکړو — د سودا زده شو سودا کې
د سودا په سیاهی کښې — حوادث تله په غوغا کې

سکندر او ناپلیون څه ، داسې د یرې کوزې پاتې
ما ترهغې کړلې ماتې چه شومات له ماتې پاتې

طاقتونه د جهان چه — شو لو ما ته په سلام
د قامونو منځکښې یاد شوم — د فاتح پښتون په نام
را په گوته شو لو ما ته — د دنیا ممتاز مقام
بی پروا په یوه دم شوم — د دښمن له انتقام

لنډه داهر څه پوره شو بربر راغلې کامرانیء
دغرور کاروان چه راغی وکړو کوچ خودشناسیء

ولولې مې چه شوې زیاتې — یو طوفان شو تربنه جوړ
ارادې چه غلبه شوې — اویء جهان شو تربنه جوړ
چه غرور ورته را گډ شو — یو نقصان شو تربنه جوړ
تذکر چه شو کمان کښې — یو نسیان شو تربنه جوړ

چه خودی او بیحو دی شوه پریشانه اغتشاش کښې
ځان مې ورك كړو په داسې نامعلومه شان تلاش کښې

د غرور په سمندر کښې — مې زورق شو طوفانی
د مغرب له لورې راغله — توره وریځ وه اسمانی
وریځ نه وه دخدای قهر ؤ — وریده ترې ځان ځانی
یو مظبوط گوزار مې وخوړ — په تندی ناگهانی

بیهوشی په هسې شان شوه چه مې هوش له هوشه ووت
د سکون حکومت راغی حرکت خاموشه ووت

انتظار ډېرو ېمې مړې شوې
دغفلت په توره شپه کښې
داحساس لېمه شو مړا وی
د وهمونو په چپه کښې
د لمون امخ مې بدل شو
د جمود سړه شپه کښې
ارتعاش مې لاره وکړه
دځوانۍ توده غرمه کښې

داقبال پیکر یودم شو ستر ګې د کې غربو نیولی
یو معصوم غوندې حسین شوله مړی نه دېو نیولی

اضطراب چه کړه را ووړه
نا آشنا غوندی حال راغی
رنګ چه راغی حقیقت لاړه
دبو ډیء غوندې تال راغی
خواب و خیال چه غلبه شو
نا شنا سه مهال راغی
هیڅ مې نه لیده په ستر ګو
خوبدن لره جال راغی

زولنې نه ښکاریدلې خوشرنګار مې اوریدلو
دجلاب هیڅ پته نه وه خو مهار به مې لیدلو

څه خبرې به مې لیدلې
خبر نه وم له مضمونه
پر کالی کښې به لیدل ما
دا عجیب غریب رنګونه
شول وهمونه را مخکښې
ګړ نګونه ګړ نګونه

یو تیاره دشپې به رنګ وه دادراک په کورو لاړه
جارو ګی جوړ دفنا وه د طاغون په دود لتاړه

ناګهانه را پیدا شه
دنسیم خوږه وزمه وه
د نګو خوکو شروع کړی
د حیات توده نغمه وه
یو رنګین لمسونه پکښې وه
چه زما دزړه دمه وه
لمسون څه دخیال ده کورمې
مدهشه زلزله وه

ماچه ستر ګې کړلې بېرته یوه نوې رنګ غوغا وه
دسحر پکښې خندا وه د شفق پکښې ژړا وه

تول جهان تلاش تلاش وه — ستورو هم کولو زغل
نمر سپوږمۍ هم روان شوی — د تلاش وه په شکل
استعداد ئې کښولو — له تخرګه د ازل
نندا روهم ننداري کړي — تول جهان عمل عمل

لېونتوب راغی ښاغلی بوخت په غلوا شارو کښې
مشوش سکون مې ګډ شو نا قلاره قلارو کښې

بینا ئی چه وکړه ستر ګو — د جهان ئی تماشې کړی
دچمن پرندګانو — دقم ! قم ! راته نارې کړی
داحساس په سرو پیشو کښې — حو صلو مظاهری کړی
زما حس او نظر ګډ شو — حرکت ته ئی ارادی کړی

دتکل زلمی چه زغل کړو دجادو پردی شوی ماتې
ما چه مخ را واړولو خپل ښایسته کو روء را پاتی

ما دلوبو غوندی حال کښې — چه کوم وکړل حرکات
په نصیب دجادوګر شو — خجالت دعرصات
داسې تېز لاړم په منډه — تر میقات و عرفات
چه حیران زما په کړو شو — تماشېګره مخلوقات

زه اوس بیانوی طاقت شوم دقانونو په حلقه کښې
آزاده سراب مې وڅکل دتهذیب نوی پیاله کښې

راته وو ایه ځلمیه ! — چه دا څه ؤ څه شو عیان
غوز دی کېږد دادوه جملو کښې — درته کړمه تول بیان
دپسرلی رنګ کښې راغلی — سیاسی غوندی خزان
چه فنا شو دا خزان — شو قایم پښتونستان

بیا یونوی رنګ معمار شوم دقدرت پخته کارو کښې
دخواهش ماشوم مې کښېنا و دامید په منارو

# ملي اختر

ښاغلي محمدین بریان

دا شیا په لویه غېږ کښې — زمونږ ښکلې پښتونخوا ده
هلته کور د پښتنو دی — ګرانه مینه د بابا ده
دوګړو ښه خوښي ده — دی ملي اختر خندا ده
بې شرابو ټول مست شوي — څو نۍ غورځوي نڅا ده

جمع شوي دي ځوانان
د غیرت ښتني امسیان

کله ناځي هم خندا کا — کله شنه خوږه لوګي دي
د ټوپکو ډزها دي — د شجیع زمرو غړومبې دي
د پلرو دفتح یاد کا — وایي زموږ هر وقت بري دي
ځغلو لې موږ په ټوره — که اورنګ که پرنګي دي

بیا په زیاته دا غلام
شو داعي زموږ دزمام ؟

لاس تر غاړه څومره خوش دي — بلوڅان که کاکړان دي
سره ټول دابدال قوم دي — یوسف زي، که بړیڅان دي
هم وزیر مومند شنواري، — افریدي که اورکزیان دي
یوه ژبه یوئي بول دي — پر یوه لار ټول روان دي

چه حاصله مدعا شوه
خو ښه ټوله پښتون خوا شوه

زاړه ناست یاد داحمد کړي — چه بري د هند وبارو
چا قصه کړه دغوریانو چه — غلیم ئې تار پتارو
بل میر ویس ښو دي — چه ده ځیني دښمن تلنا قرارو
هو! ستا ننه وه دتوري — داد هر یوه اقرارو

پخواني دفتر دا ستان
کړ سپین زیر وټول بیان

دوی ځوانانو ته ویل پرېږدی      ګوندی دا ډېر جهالت دی
دتربور نوم دهغه مرګ ترك کړی      دا هو بد عادت دی
د وحدت لاس سره ور کړی      نور بېلتون هو حماقت دی
مشر مشر کشر کشر بولیء      فرض دا اطاعت دی

دغه لاره د نهضت ده
هره تبرله د رفعت ده

ستاسی ننګ خورا معلوم دی      کله بند په مال سر واست
د سکندر دمخ تاسی وینو      دچنګېز سیلاب ته غر واست
غرب کښی شپه د جهالت وه      شرق کښې تاسی لکه لمر واست
تاسی مات بت دتشریك کی      و پاك دین وته رهبر واست

نن هم هغه پښتانه شیء
یا پخپل مرګ میلمانه شیء

کړه سپین زیرو داو عظونه      کشرانو غوږ نیولی
زړونه ډك له محبته      کین حسد ځینی وتلی
ؤ ډګر د انصاف عدل      صحیح نظم نسق جوړ شوی
انسانی دنیا وه وبرم کښې      د حق نور وځلید لی

چه یو زغ شو ناګهانه
دیو مشر عالیشانه

زغ شو لوی مجاهد راغی      پاڅیء پاڅیء چه سلام کړو
ټول ولاړ په ښه تکریم شول      نیت ئی داچه احترام کړو
په خوښی سپیڅلو زړونو ورته      وړاندی دا پیغام کړو
مبارك دی مشر توب مشه      موږ به ټوله ستا اکرام کړو

ته بانی ددی تحریك وی
په هر غم کښی مو شریك وی

ستا په شان نور مشران زمونږ — محبسو نو کښې بنديان دي
په ستم کوی ميچنى بيچاره — او مظلومان . . . دي
دوی ترسر او مال تېر شوی — تل مدام پدی ارمان دي
چه به کله دا روح راشي — ارمانجن ئی په هر آن دي

دوی له دا لو مفروضه وه
هر گړی ئی تلوسه وه

پس لدی مبارکی نه — وه شروع دپاك كلام
وه نطقو نه بيا ئی وو ی — چه به زمونږ وی څه مرام
هو ! مرام دی ددين غور — بل حقه حق زمونږ دقام
که په سر وی که په مال وی — فرض عين ئی دی انجام

چه منکره د ښمنان شول
د کبا فرو غلامان شول

موږ خو جمع يو گرو يك کښې — با جوند دی که خيبر
که تيرا ده پښتانه يو — زمونږ دا مد . . نظر
چه فطرتاً حق لری — د آزادۍ تو له بشر
بيا په زيا ته دپښتون قوم — چه پرا ېښی ئې دی سر

زموږ تولو دی دا بول
چه پر يو ځای شو را تول

خا تمه د دی وينا وه — شوه روان په خوشحالۍ
دا لله اکبر ناری شوی — چه ئی پورته کړه چندۍ
د طو پو نو غړ مبهار شو — راغلې د پری قربانۍ
شوې حلالی لرو بر په — وينو رنگ ددې ښادۍ

دا نارې دی په هر آن
تل دی وی پښتونستان

# له هاتفه آواز راغی سررا پورته کړه افغانه

ښاغلی عبدالله جان «غمخور»

دا قبال ستوری دې وخوت — په افقو کې رڼا شوه
د ظلمت پرده دې څیری — د هجران شپه دې سبا شوه
د خاوند په دربار قبوله — دی دخو ږ زړه گی دعا شوه

له هاتفه آواز راغی سررا پورته کړه افغانه
پښتو نخوادی مبارک شه سربلند شوی له هرچانه

دوحدت چراغ دی بل شو — د تیرا په تورو غرو کې
سپینه توره دی غور زنگ کړی — د خیبر په سردرو کې
جوړ محشر د جذبات شو — شو دروه په رو هیلو کې

دا الطاف دزماني دی نن په تا باندی پښتونه
نه ! ـ سوغات ده زماني دی غافل نه شې له دی یونه

دا دوره د یو نهضت ده — چه را غلې نن په تا ده
که پوه هېږی د زړه سره — د قومې تعمیر بنا ده
تل چه ته پسې مجنون ئی — هم هغه ښکلې لیلا ده

نن په یو جرئت حل کیږی دا مشکله معماستا
په خندا به شي بدله دپېر و پېړو ژړا ستا

په قومي میو مخموره — اند ښنه مه کوه نور ته
دا میدان د حماست دی — د پېغور وا نه خلی تور ته
د پښتو د پښتنو لی — یو ځل بیا وښیه زور ته

تا په خپل غیرت گټلی خوځو ځلی میدانونه
دهمت توره را واخله په غلیم پسې پښتونه

د حیات د لوی دفتر ئی — یوه ښکلی سرنامه
په جهان کې نو میا لیه ! — بیا تو ده کړه هنگامه
د تاریخ پا نمی ښا یسته کړه — په یو نوی کارنامه

ستا د سپینی توری برېښ ته منتظره پښتونخوا ده
دا اعجاز دی را څرگند کړه د غلیم د زړه سودا ده

## مونږ څه ليدلي ؟

ښاغلی ګل پاچا « الفت »

مونږ د انسان په صورت زښت ډېر شرمښان ليدلي
د پښتنو په رمو کښې مونږه لېوان ليد لي

توتي توتي دغليمانو په چړ ويـو مونـږه
مونږ ظالمان مونږ خونخواران مونږ قصابان ليدلي

د چنګيز سترګي مو ليد لي هـلا کو پيژنـو
مونږ په سرو وينو لمبيدلي خپل ځوانان ليد لي

خپله يتيم پلار ئې يتيم نيـکه ئـي هم و يتيم
غليم له لاسه مونږ ډېر داسي يتيمان ليد لي

په مونږ را غلي ډېر قومـو نه د جګـړ و د پـاره
بالاحصار کښې مونږ ايسار ډېر فرنـګيان لبدلي

دميوند جنګ کښې دوطن د آزادۍ د پاره
مونږ ډېر سرونه پښو لا ندې دافغان ليـد لي

زمونږ په ياد دي د بـګرام او دپروان جنګونه
جنګ او جګړو کښې مونږ لشکري ديونان ليدلي

څو قرنه وشوه چه له ظلم سره جنګ کوو مونږ
مونږ غوندي ټينګ خلق نه ځمکې نه آسمان ليدلي

لـکه موسی مونږ په امسا دفرعون سر مات کړی
ډېر مغرور خلق په شکست کښې مونږ حيران ليدلي

مکرو فريب او له تلبيس سره په شخړه کښې يو
مونږ دانسان په بڼه زښت ډېر ابليسا ن ليدلي

مونږ نه غوليږ و نه وېرېږو پټې سترګي نه يو
له هري خوا مونږ طوفا نو نه دجها ن ليد لي

هندو پنجاب سندو کشمير دسر په سترګو باندي
زمونږ غازيان او سرداران شهنشاهان ليدلي

په خوا رو سترګو پښتنو لره نن ګوري ولي ؟
په غلامي باندي قانع چا افغانان ليـد لـي ؟

په وينه هيچا بې ننګي مونږ نه ليدلي نه وه    زمونږ په باب غلط خوبونه پاکستان ليدلي

# جوړ کړه نوبهار د آزادۍ

د ښاغلي زهير وينا

مبارك دي شه پښتونه      د پسرلي رازراز ګلونه
دا نهضت دا ښه وختونه      دا پټي او ښنه باغونه

جوړ کړه نو بهار د آزادۍ
ښه ښکلي ګلزار د آزادۍ

ته د توري روڼ غمۍ ئي      د ښت پرپښته توريالي ئي
د میدان په روح زمري ئي      جنګيالي او ننګيالي ئي

جوړ کړه نوبهار د آزادۍ
ښه ښکلي ګلزار د آزادۍ

د ژوند په ګيرودار کښې      په تقبيح د استعمار کښې
د غيرت په اقتدار کښې      د پښتون په افتخار کښې

جوړ کړه نو بهار د آزادۍ
ښه ښکلي ګلزار د آزادۍ

بيا خاوند د استقلال شه      هم پرې تېر ترسرومال شه
نن ښتن د خپل مآل شه      بيړه وکړه په ښه حال شه

جوړ کړه نو بهار د آزادۍ
ښه ښکلي ګلزار د آزادۍ

راشه و ګوره صباته      ستر ګي څير کړه شاوخواته
ګوره خپل بقا فناته      ابتدا او انتها ته

جوړ کړه نوبهار د آزا دۍ
ښه ښکلي ګلزار د آزا دۍ

عزت و ګټه هوښيار شه      سر بازۍ و ته تيار شه

همت و ښیه بیدار شه    لهغلیمه په کار زار شه
جوړه کړه نوبهار د آزادۍ
ښه ښکلی ګلزار د آزادۍ

زهیر لری دا امید    ځلاند دی او سه خورشید
راغی و مونږ ته نوید    آزادی دې شوله جاوید
جوړه کړه نو بهار د آزادۍ
ښه ښکلی ګلزار د آزادۍ

❀ ❀ ❀

## وینې زرغونې دې خطا شوې ئې ګلزارنه دی

(ښاغلی غلام رحمان جرار)

مه ویاړه بلبله دا ګلونه دا بهار نهدی    داداورسکروټې دي چه سوزی مې سینګار نهدی
دادغم سندری دي داستا دخولی چغهار نهدی    خوشی لهمستۍ نهدلاله خاطرافګار نهدی
غم ئې ګڼم غمدی چه پښتون په کی بیدار نهدی
تهبه په ګلشن کې قسم قسم خوشالی وینې    تهبهزیړ ګلونهسری کو کیږ دپسرلی وینې
زهدزړه پهسترګو وینمداد ننګیالی وینې    دی کو کپو سکلی په ورشودتور یالی وینې
وینې زرغونې دی خطا شوې ی ګلزار نه دی
وګوره ورشو پسې دیچول اوبیابان لره    وینو لاله په کی پیاله وینې افغان لره
بولی پښتانه دشهیدانو ار مغان لره    تللیوم پښتونه اوس تریراغلم ګورستان لره
پلار دی ویلداچهمی بیننګه ځوی په کارنهدی
څه په ټول عالم چهد پښتون نجیب نژاد نهوی    څهپه پسرلی چه پښتانه پکښې آزاد نهوی
څهپهعیش او نوش چه پښتانهدچا په یاد نهوی    څهپهچین ختن چهد پښتون د پلارهیوادنهوی
ټول دی په پیسهوی چه پیسه نه وی بازار نهدی
هاغهمرغه کوم دیچه پنجره کی جګرخون نهوی    یوقبر دنیاده چه آزاد په کی ژوندون نهوی
خوشی بت پرست دی چهمینه کی مجنون نهوی    وصل پری حرام دی چهئې خوب په میږ تو نهوی
وخت د کتو لاړه پاتی وخت دا نتظار نه دی

مړه ځمکه ژوندی شوه پښتانه په خوب ماده نه دی ولو یه خښتنه زه ئی شکر مه واده نه دی
غلاډئی کورته راغله لاس یه توره په چاره نه دی ښی دمزی شپی دی قربانی و کړه ساده نه دی
وتی له ځلمونه چه بی ننگه فدا کار نه دی

ماتی زلونې کړی له آسمان دا اعلان وشو دا آواز له غیبو دادم په خاندان وشو
مات شه نورونه درې دا امر په زندان وشو وزه له زندانه هسی حکم په انسان وشو
نور په اسارت کې د بل هیڅ بشر ایسار نه دی

ته په دی دنیا کې آزاد شوې له فطرته ئې ته په آزادی او استقلال کې له خلقته ئې
ته هاغه پښتون ئی چه منکر له اسارته ئی ته مجسمه ئی جوړه شوې له غیر ته ئی
دغه حقیقت داعتراض او دا نکار نه دی

ورشی د تیرا په لوړو غرونو کې سفر و کړیء سیل او تماشا په کې مخصوصه د خیبر و کړیء
بیا په کې پوښتنه د مسلم او د کافرو کړیء بیا له رنګینه کانو پوښتنه د محشر و کړیء
روغ له دغه ځایه بیرته تللی گناه گار نه دی

۷ ملیونه تاسې ۱۲ نور ستاسې په ځنگ کښی دی هاغه پښتانه چه یا خه شوی تول په جنگ کښی دی
تاسې ته داوا ده هم په شکل هم په رنگ کښی دی دوی کله تن ده چاته په توره او په ننگ کښی دی
ځوک وائی چه سوک د پښتانه د توپ گذار نه دی

جگ شی بسم الله کړی پښتنو پښتو نستان جوړ کړیء
وخت درنه تیریږی له ځانو صحیح انسان جوړ کړیء
ملا وتړیء زرشیء له دې غرونو گلستان جوړ کړیء
نوې حادثې نوې قیصی نوی داستان جوړ کړیء
ته پښتون اغائې غلام هیڅکله بادار نه دی
وینی زر غونی دی خطا شوی ئی گلزار نه دی

# دا مقام دلوی وحدت دی

ښاغلی روشندل ( روشن ) وردگ

ای د درست پښتون ځلمیانو
ای نیشه مستو ځوانانو
ای دجگو غرو زمریانو
دا نشان د سعادت دی
دا مقام دلوی وحدت دی

مبارك مو سور بیراغ شه
مبارك مو بل چراغ شه
مبارك مو ښکلی باغ شه
دا نشان د شجاعت دی
دا مقام دلوی وحدت دی

❀ ❀ ❀

د تیرا په لوړو غرو کښی
په مهمندو باجوړ کښی
دوزیرو او مسعودو
ټول پښتون په حرکت دی
دا مقام دلوی وحدت دی

بیرغونه سره ریبزی
شور اکانی راغورځیږی
حکومت جنده جگیږی
ټول ولاړ په ډیر غیرت دی
دا مقام دلوی وحدت دی

❀ ❀ ❀

د چترال په شا او خوا کښی
په مردان او چارسده کښی
ملاکنډ او هری پور کښی
دا زمان دلوی غیرت دی
دا مقام دلوی وحدت دی

د پښتون هم دا سوری دی
دهیجان سوی ناری دی
پښتنو! لی زلزلی دی
دا زمان د ډیر همت دی
دا مقام دلوی وحدت دی

❀ ❀ ❀

صوات، بنیر که پیښور دی
له کوهاټه تر کیټی نه
له تور خم تر آباسینده
وا ئی زمونږ بیل ملیت دی
دا مقام دلوی وحدت دی

هم په دی اعلان خبر دی
پر هو تلی دا اثر دی
ټول پښتون په شور او شر دی
وا ئی زمونږ بیل حکومت دی
دا مقام دلوی وحدت دی

د وحدت جنډې شوې پورته
د حکومت ناری شوی جګی
د تدبیر جلسی شوی جوړې
اوس نو وار د مرکزیت دی
دا مقام د لوی وحدت دی

پښتونخوا په جګو غرو کښې
د وزیرو په درو — کښې
د سپین غره په منارو کښې
اوس نو وار د مرکزیت دی
دا مقام د لوی وحدت دی

❀ ❀ ❀

اوس را تول په یوه مرکز شیء
یو حکومت یو وحدت ساز کړيء
تیت پرك پښتون راغونډ کړيء
د امیدان د لیاقت دی
دا مقام د لوی وحدت دی

د پښتون نظام اعلان کړيء
د قرآن احکام روان کړيء
سرنوشت د قام اعیان کړيء
د امیدان د شجاعت دی
دا مقام د لوی وحدت دی

❀ ❀ ❀

د وحدت لاسونه ور کړيء
د وطن په آزادۍ کښې
د غیرت سوری کړيء پور
استقلال د خدای نعمت دی
دا مقام د لوی وحدت دی

یو له بله ځان قربان کړيء
تیر ترسر او مال ځلمیان کړيء
شرمنده خپل غلیمان کړيء
استقلال ملی شوکت دی
دا مقام د لوی وحدت دی

❀ ❀ ❀

احمد شاه شیر شاه، لودی تول
جیلخانو د پاکستان کښې
کوټې رنځې محکومان تول
وائی دا څه مشقت دی
دا مقام د لوی وحدت دی

قبرستان کښې نا قرار دی
سرداران ډیر په تلوار دی
ستا غیرت ته انتظار دی
وائی دا څه فلاکت دی
دا مقام د لوی وحدت دی

❀ ❀ ❀

استقلال مو زر حاصل کړيء
سپین سپیڅلی محکوم ورونه
د ظالم دښمن له پاره

سرداران خلاص له بندو کړيء
په همت خلاص له ظلمو کړيء
د طاقت لاس په چړو کړيء

دغه وخت د جدیت دی — دغه وخت د ډېر همت دی
دا مقام د لوی وحدت دی — دا مقام دلوی وخدت دی

❀ ❀ ❀

د ظالم د ښمن له لاسه — په پښتون شوی ظلمونه
چه جدا ئی کړل له تنه — بیا ئی بیل بیل کړل قامونه
بیا ئی وبښل وبل ته — که چرګان او یا پسونه
وائی وخت د ندامت دی — وائی وخت د ندامت دی
دا مقام د لوی وحدت دی — دا مقام د لوی وحدت دی

❀ ❀ ❀

## پښتون خپل حق غواړی !

ښاغلی عبدالقدوس پرهیز

دپښتون دتوری بریښ ته، دی قایل ټول اولسو نه
دغیرت په کارناموئی ، شاهدی لی تاریخو نه

پخپل توره او میړانه — زمونږ هروخت اعتماد دی
حق دپاره په سرو ینو — مونږه کړی اجتهاد دی
چه زمونږ په پاکه خاوره — چاچوړ کړی کوم فساد دی
پښیمانه غم ز پلی — په شاتللی نامراد دی
میرځمن هم په هر وخت کښی زمونږ ستایی داخویونه
چه مونږ تل په یوه منډه دی نیولی د یر ملکونه

خو چه کوم وخت زمونږ توره — علم و فضل نه جدا شوه
دوحدت او یکرنګی مو — هغه دم خړه فضا شوه
تشتت او ځانځانی هم — کور په کوررا کښی پیداشوه
نو زمونږ و تجزیی ته — زمینه ښه مهیا شوه
نتیجه کښی تری پیداشول دډیورند فرضی خطونه
بیا ګالل مولهنا کامه د بیلتون ترخه ربړونه

هم هغسی پټی ستر ګی — د غفلت په خوب پراته وو
دنفاق او د شقاق نه — بدخویونو کښی وراسته وو
هیڅ اسره راسره نه وه — دحق لوری ته کاته وو

عدالت له‌دنیـــا و رك ؤ          دکمزو روپړی ریا ســت وو
چلیدل به په نړۍ کښې ، دسخت جبر قانونو نه
دهرچا چه به‌لاس برشو ، یوپربل ئی کړل ظلمونه

چه‌آخر ډیرو جګړو کښې          داحریص بشر ستومان شو
په ها شو یو خونریز یو          دی نادم او پښیما ن شو
بیا بهر ته له سره اوره          دخلاصۍ په لار روان شـــو
د جګړو دمخ نیو و تـــه          په‌یو زړه په یو پیما ن شو
دایمی روغې دپاره بیا ئی جوړ کړل مجلسونه
چه‌حق‌ور کـاندی‌حق دارته،دظالم‌ورانه‌کړی‌خونه

سمدلاسه چه دنیـا کښې          حقوقی آو از او چـــت شو
دخپل حق دپاره پور تـــه          په هر ځای غـــلام ملـــت شو
هندوسیندخپل‌حقوق‌واخیست          یهو دهم ځانته دولـت شو
فقط یو پښتون لا پا تـــه          هم هغسی په ذلت شو
دادی څومره بی ننګی ده ، ولی نه‌مری ای پښتونه
چه غلام‌ابن غلام اوس ، چلوی په تا حکمونه

نور یوه مرکز کښې جمع          دپښتون ټول قوت غـــو اړ م
چه‌پری‌ټینګ پښتونستان شی          هغه تـوره همــت غــواړم
مېړ نتوب‌او‌توری‌ځنګ کښې          هم علمی فضیلت غوا ړ م
د یو نو د لوی مجلس نـــه          دورور حق په حرمت غواړم
که‌څوك‌ورنه کړی پښتون‌ته،دآزادژوندون‌حقوقه
دراتلونکی تباهۍ به ، هغه وا یی ځوابونه

پښتون هو مره ضعیف ندی          چه‌پردی پریږدی په‌لورخپل
په بل تجاوز نکړ ی          په‌مېړانه ساتی کور خپل
اخستی شی په آسانه ...          دهرچاځنی هم پور خپل
مګر نه‌غواړی « پرهیزه »          چه‌پری‌پوری کړی څوك‌تورخپل
که‌وخت‌راغی‌په یرغل به ، کرم‌لتاړ ډیرهیوادونه
ادا سیند به‌می بیاپښوته ، غوړوی پاسته شالونه

## سره بیرغونه په تیرا و زیرستان رپیږی

ښاغلی شاهمرد ملیا

توره په لاس واخله چه نوې ګلستان جوړ یږي     پښتونستان جوړ یږي
پښتون پیدا دی ازاد ، مدام به اوسی ازاد     وی به په زړه باندې ښاد
تل سر بازی کړی زمری کله پخپل ځان ویریږی     پښتونستان جوړ یږي
دغه عبث خبری ولی دښمنان کوی نن     دا قا دیانان کوی نن
پښتون بیا کله ستا په عهداو پیمان غولیږی     پښتونستان جوړ یږي
ستا سی په غاړه کښی کړی د غلامۍ پرتی دی     د بې ننګۍ پرتی دی
د پښتنو په آزاد روح تمام جهان پوهیږی     پښتونستان جوړ یږي
ځوک چه پښتون وی هغه نګوری پیسو ته دچا     خوشی کیسوته دچا
هیوادفروشی د کام بدخواه تل په ایمان خواریږې     پښتونستان جوړ یږي
مونږ شکرونه د خاوند پروردګار کوونن     لیل ونهار کوونن
سره بیرغونه په تیرا و زیر ستان رپیږی     پښتونستان جوړ یږي
سره بیرغونه د مومند و باجوړ و ګوره     هم د دوړو ګوره
عشق د وطن کښی به پښتون په سپین میدان جنګیږی     پښتونستان جوړ یږي

## پښتونستان جوړوو

ښاغلی عبدالوکیل «ستی»

داوطن دی د پښتون     ور کوی ور باندې سر
مستقل غواړی ژوندون     پښتانه تول لر او بر
دالیلی دائې مجنون     دی وصال ئې پرې اختر
راضی نه دی په بیلتون     یو کهول دی یو ټبر

جوړوو پښتونستان په دې لویه پښتونخوا کښی
آزادی غواړو کامله نن د عدل په د نیا کښی

ننگیالی لرو ځوانان     چه دی تېر له خپلو وینو
توریالی لرو ځلمیان     واده مست په خپلو مینو
جوړوو پښتونستان     اسره نکړو په سرو نو
مونږ گټو خپل شهیدان     چه مره شوی په بمونو

غلامی نه شو منلی په دې ښکلی پښتونخوا کښی
جوړوو پښتونستان په ښایسته پاکه فضا کښې

دا پښتون په غلامی کښی     دفطرت نه پېرزو کېږی
پښتانه په آزادی کښی     دهرچانه ښه ښکارېږی
هر پښتون په دې سیالی کښې     د سیالانو نه تېرېږی
پښتون کله په نالی کښی     چالید لی چه مړ کېږی

پردی اغیارنه شو منلی دخوشال بابا په خوا کښی
جوړ وو پښتونستان په دې لویه پښتونخوا کښی

دلته کور دی د زمرو     گوره پام کړه چه رانه شې
کېږی لو بی په سرو     فکر کړه بې پروانه شې
ویره کړه په خنجرو     چه ښکاره په دې خوانه شې
دی طوطیان د سردرو     زاغه ته په سودا نه شی

سربه وخوری دخپل ځان چه راځې بده سودا کښې
جوړوو پښتونستان په دې لویه پښتونخوا کښی

ریوو به سور نشان     د خیبر په ښکلو څوکو
کړو خبر به تول جهان     د دشمن په بدو کوکو
ده آرزو مودا میدان     یو ولاړ د پښو په نوکو
یا به ورک کړو غلیمان     یا به خپل ځانونه مړه کو

نه پرېږدو مونږ غلیمان دلته خپله خواو شا کښی
جوړوو پښتونستان په دې لویه پښتونخوا کښی

## دپښتون د آزادیء غبز

ښاغلی عبدالرازق (صدیقی)

ای فلکه ولی کړې دومره ظلمونه     بیوې دزخمی زړو نـونـه رودونه
ستا دظلم ابا سیند وهی مـوجونه     پایمال شوچه پری راغلل ستا پیرونه
داهم ستا دظلم او جبرو نه پیدا شو
چه غلام وا صیلا نو ته پـا چـا شو

لږ پـه حال دپښتنو هم نظر و کړه     ددې دومره ظلم اوزورنه گذرو کړه
د پښتون د زورو نـه حـذرو کړه     آزا دی د دسعادت پرې خبرو کړه
دی خواره ورته اسلام د پردی لاندی
سل چالونه اودا مونه لانـدې باندی

په جواب کې آواز راغی له آسمانه     تاته عقل خدای در کړی دی افغانه
ولی دومره شکایت کوی له ما نه     ستا گیله گذا ره حقه ده له ځانه
زیاتی بس که نور زما نه شکایت
دا دظلـم قسم قسم حکـا یـت

تا سو خپـله سره و کـړیء اتـحاد     نو به هله په آزا دو کښی شیء یاد
دښمنان به نشی تاسو با نـدی ښـا د     تیـه خوله کړیء له نارو او دفریاد
توره وا خلیء د دښمن لورته روان شیء
چه ښکاره په لوړ همت بیا په جهان شیء

پاځیء پاځیء ای ځوانانو چه سحر دی     را ختلی دمشرق دلـو ری لمر دی
دپښتون ځلمی په لاس کښی سپین خنجر دی     دغلیم پس ر وا ن غیور لـښکر دی
چغه وشوه ملـکوت کښی داسی شان
شو پښتو نه ستا نصیب پښتو نستـا ن

# پیغام

دښاغلی غلام جیلانی جلالی اثر

دلویو غرو شماله پاخه شـــه لندن تـه روا ن
له ماپښتو نه‌سر «اتلی» ته دا خـبر کړه بیا ن
وده ته وایه چه تا ریـخ دبـر یـطن نـه‌لری
ستا په‌شان بل یو دیمو کرات‌صدر ښپښتن‌دوجدان
ستـا په دوره کی ارت هند په‌آزادۍ شونایل
ستا عاطفه وه چه‌ممکن شو ناممکن په ښه شـان
ستا انسانی احساس بی‌جنـگه پا کستان ومانه
هندو سیلون برماحاصل ددومینیون کړ عنوان
دا کـارنامه به ستا تاریخ په غېږو تو رولیـکی
څو چه انسان په نړۍ پائی لیا باقی وی‌جهان
ته هغه‌څوك ئې چه‌شوی‌تېر د استعمارله گټی
مغرور ملت دی دانـگلنډ په سمه لارکړ روان
تا ته هغـه‌چاری آسا نه شوی دا نا و زیـره
چه په کلونو چرچل پاتـه وو هغوته حیران
تا کـا منولت هسی تر میم کړ د بشر په گټه
چه نه بالډوین نه‌چمبرلین کړپه عمرونو ودان
دمونت بیتن را پور کی ستابشر دوستې وینمه
هم په برما اوپه سیلون کی ستا همت‌شوعیـان
ای د کـار گر پارتی زعیمه دانـگلینډوا کمنه!
ستا په صحی تدبـیر لینی‌او هتلر بایلود میدان
جاپـان بی‌شرطه‌شو تسلیم هیرو شیما شوه چپه
په یوه بم دمیـکا دوبن ستې لـه بېخه ویـران
دې ته‌حیران یم چه‌ته‌ولی پـا کستان نه‌وینې
دبېکنگم امپریا لست کاذب یاران نه وینې

موږ له تانه غواړو پښتون ته استقلال ومنه
پښتونستان یو دومینیون په‌دی جنجال ومنه

پښتون په خپله مستقل دی له زر ګونو کلو
وګوره‌څه که پاکستان داهم یو فال ومنه

ددې بد مرغه سیاست به نتایج شی څرګند
ژر به‌ئې ګورې چه‌بدل شی دا احوال ومنه

پاکستان‌څه غواړی‌څه‌باړی له‌دی کانو ګټو
څه به‌حاصل کا ؟یوبدنوم‌داز عامقال ومنه

پښتون انګریز نکړ په‌سل کاله دهند ضمیمه
بنګالی څوك‌دی‌چه‌پښتون خوری دامحال ومنه

خولنړ کی ځیرشه ګوره‌دوړی دآسیا په ځوړو
چه پرله اوړی ددې بدو بد محال ومنه

نه ده پښتون تر یوه دوه شی دا موخیر ګڼمه
له پښتو نخوا د تېر بدو نښته مجال ومنه

که هند محفوظ‌غواړې‌پښتون‌قوی کول‌دی‌په کار
نن دپښتون ضعیف ساتل یو فاسد خیال ومنه

که تاسی وینی آینده دسر ظفر په ستر ګو
دواړه ړانده‌دی که مکحول دی که کحال ومنه

ترې دسپل مخه په‌چا ؟ دکراچی په سونو ؟
غر بویه سدشی دی سیلاب ته نه دیوال ومنه

که ته زمانه منی نو ښه ده له کوتاه نظری
دپاکستان دقا دیا نیزم قیل وقال ومنه

خو نه چه ورکې په تخمین ددې چرند و پرند
یوه شاهین ته په منګل پاکه کشکره دهند

پښتو نستا ن دی دهغــو زلمــو د مېــشتی مقر
چه ستا په ګټه ئې منلی په خو ځلــه ضرر
دوی په هغوسترو جګړ کی کارنامی ښکاره کړی
چه دیــوی قــاید و یلهلــم وو دبــلی هــتلر
څوک وو چه ورغلل په جنګ مارشال رومل ته لمړی ؟
چه وو نیو لی دجرمن لو یو تو پــو ته ټــمر ؟
ستا به هیرنه وی سر «اتلی» په هغه لړ ند میدان
چا کړ بر غل ستا پر غلیم دعا لمین په ډ ګر؟
څوک وو فعال رکن دجنګ دبن غازی په سیمه؟
چا کړ تشکیل هغه اردو چه ئی اتم وو لمبر ؟
دچا د پاره دوی قبضه کړی به سلسلی او په روم ؟
چا اذانو نه غبر ول دما ژ ینو پــه سنــګر ؟
څوک وو چه مات ئی کړ عصری نوی تخنیک دجهان؟
څوک وو چه دوی د بر وخج په لښکرجوړ کی محشر؟
چا کړی صلحی ته خدمت زیات تر پښتون وو ایه؟
چا په یورپ او افریقا کی مړ کی اور دخطر؟
نه وایم زه چه پښتون څه و کړه ؟ دچا د پاره؟
خو تاسی هېر کړ په تقسیم کی داپیاوړی ټبر؟
ځیر شه چه څه غواړی دوی ؟ هیڅ ستا له دولته څخه
یوا زی دوی کړه دقیوم له جیلخانو نــه بهر
هغه شی غواړی چه پرون موو بر ماته ور کی
که دی ته ا ګناه وو حق ته یو ځل و کــړه نظر

ښه ده چه دوست مــوشی پښتون ولی د بل په خوله ئــې ؟
نه ده څر ګنده آ ینده چه نه بــه ئــې کــه نــه ئــې ؟

زه یو پښتون یم دغرور دار او مدار ته وایم
په سمه ژبه دانګلند و افتخار ته وایم
زه پښتنو دقوم خان چه مې چنې ژاړم
د استبداد متار لرونکی سرحد دارته وایم

زه مطالم داسلامی لوی بیرغ دار یادوم
یو ملی چپ شه پاکستانه ستا بادار ته وایم
ستا اراجیف و مدنی پراخی د نیا ته ښیم
وسر «اتلی» غوندی منصف صاحب اختیارته وایم

زه د کار کرو کابینی ته خپل افسوس ښکاروم
وسر «بیون» دخارجی چارو واکدار ته وایم
داحکومت دی که یو څو تنه هزال غونډی شوی
د کراچی راډیو ته ناست تنګ او ګمارته وایم

ها بل څه نکا دانګلند «یونین» تاج سپکوی
څه پیری، څه پلوری افسوس ودې کردارته وایم
دا اسلامی قادیا نیزم که محلی تهذیب دی؟
دا کوم ادب دی کوم اخلاق څه ودې کارته وایم

دا انار شست ارسطو کرات و ګړی څه لوبوی
ودیمو کرات فاشست، پلانټر ناظم دیندارته وایم
ته نن ورځ نه ئی دبنګال یو محلی چو دری
اوس ګونر ئې دیر افسوس ستا اقتدارته وایم

که پاکستان بولې دولت لبز کې متین شه وروره
ستاسی دسپکو شکوه ګوره ستاسر کارته وایم

مطاب خو دادی چه پښتون ستا بادارى نه منی
پښتونستان غوادی تشکیل شی چو دری نه منی

نن له کلاته تر چترا لمطو فانی ده فضا
داستقلال جنډی ریږدی په ګرویك په تیرا

د کراچی لښکری بیا کرمی جمرو دته راغلی
غوز په آواز دی ښتانه چه څه به کېږی سبا

دهتلری پاکستان توپی په سرحد پنډ ږی
پرله اوښتی دی اوریځی بحرانی ده دنیا

هغه اجیر پولندیان کوم ؟ دمغلګی قاتلان
بیا منوری کړی چه بمبار کړی داخل لویه تیرا

ظالم تیه نیسی چه کله به بیا وه اوروی
باران دوینو په مظلومی بی دفاع ښتونخوا

خو ښتون وائي ښتا نه یو ښتونخوا جوړوو
کهدا ګناه وی نودی نشی پاك له هنده جلا

نه وریو هېږم پاکستان کوم سیاست لوبوی
لعنت په داسی سیاست چه نه ئي مخ شته نه شا

څوك چه په خپل کور کی په ورونو شرپنل اوروی
اډو په دې مسلما نی باندی یزید کهخندا

یونو چه و کړه چه تطبیق نشو حقوق د بشر ؟
کهزورحقوق وی نورازده کړه دابار یکه معنا

وا وره بها دره سراتلی ! دا زما ا ستری خبره
پا کستان یوه کړه چه تراوسه لا ویده ده بلا

که په تاهم نه منع کېږی نو ته دو مره و کړه
چهداحریص و ګړی پر ږده چهدوی څه کړی پر چا

خوهسی نشی چه اور بل کی د جګړې په میدان
پکښی ستی کا بوا لهوس په ملیو نو انسا نان

## د پښتون قومي بهار

ښاغلی ظهورالله (همدرد)

شپه د سعادت وه سبا ورځ د پسرلی راتله    ورځ د پښتنو دسعادت او نیکبختی راتله
لویه پښتو نخوا کښی په زړه پوری خوشحالی راتله    ستره نیکمرغی او د پښتون ستره ښادی راتله
نور خلک ویده ؤ، زه بیدار کړم دسهار نسیم
سم ورسره مل وښه خو شبویه د بهار شمیم

❀ ❀ ❀

پاڅیدم له ځایه تیاره نه وه تجلا راغله    ورانګه دخوښی وه ماوی ستر ګه دسبا راغله
تیزه تجلا سپینه بریښنا تنده رنا راغله    سمه ورسره په لوړ آواز داسی ندا راغله
زه د پښتنو او پښتو نخوا قومی بهار یمه
دا رنا ځما ده د پښتون دژوند سهار یمه

❀ ❀ ❀

زه هغه بهار د پښتونخوا د ننګیالیا نویم    زه په بها رو نو کښی بهار دمړ نیا نو یم
زه شیدا په خوی د د پښتنو دغیرنیا نو یم    زه ښکلی بهار، د پښتنو دشنو مرزیانویم
زه ددغی شنو مرزیانو ستری کارنامې خوښوم
زه د پښتنو د پښتو نوا لی هنګامې خوښوم

❀ ❀ ❀

زه د احمدشاه میرویس شیرشاه دخولی پیغام لرمه    زه دخوشحال خان، کبر نادردزړه پیام لرمه
ځان سره نهضت د پښتنو قوی نظام لرمه    واړو پښتنو ته د پښتون دزړه مرام لرمه
ما ځان سره راز د پښتنو دسعادت را وړی
نوی بشارت می د پښتون د ستر عزت را وړی

❀ ❀ ❀

ما نه احمدشاه سوری شیرشاه دامی ویلی دی    هم خوشحال میرویس د پښتنو په حال ژړلی دی
څله پښتانه سره ګډوډ پراته شیندلی دی    ولی ددښمن دظلم او زور په مخ کښی غلی دی
ټول شی پښتنو ځامنو ټول دیو پښتون په نوم
ځان په اشیا کښی لکه لمر په شان ته کړی معلوم

یوشی متحدشی ګوندی ورکه له منځو نوکړی　　خپله خاوره خپله کړی وطن پاك له بیدینو کړی

قطعه د دښمن سره جګړه په توړو سپینو کړی　　مه منی پیغور وطن خړوب په خپلو وینو کړی

خدای دې پاره ای پښتنو مه منی د چا ستم

مه جوړوی مه جوړوی مونږ ته هدیرو کښی غم

❀ ❀ ❀

دیو پښتون په نامه ټول کړی سره یو لاسو نه　　په مرکزی بیرغ بدل کړی محلی توغو نه

ننشا او خوا کښی د وطن چه ښکاری سره ګلو نه　　د غه شهیدان دی د وطن تا خبروی پښتو نه

قوی اساس که د پښتون د سعا دت جوړ وی

په یو وحدت به پښتنو یو حکومت جوړ وی

❀ ❀ ❀

د چارسدی او مغلګی شهیدان مه هیروی　　د دښمنا نو له سر و نو منا ری و د ر وی

ګوری پیغور د دښمنانو ځان له مه جوړوی　　که پښتا نه یاست هدیرو کښی مونږه مه ځوروی

پښتون کسات اخیستی تل او ننګ فرنګه ځنی

چه څوك پښتون دی نه تیریږی نام او ننګه ځنی

که مو پښتو پښتو نولی فدا کاری و کړله　　که مو د نام او ننګ د ګر کښی سر بازی و کړله

که مو په یو زړه خپل دښمن ته تیاری و کړله　　د خپل نیکو په شان موستره جانبازی و کړله

د خوشحالی کړ کی به وازی شی پښتون ته مدام

د غه دی راز د سعا دت دستر پښتون د نظام

❀ ❀ ❀

## سور بیرغ ئی اوس رپیږی

ښاغلی محمد حسن «صافی»

جوړه نوی هنګامه شوه　　په زا منو د طبیعت کښی

نوی ژوند او نوی کال شو　　د مخلق په ماهیت کښی

نسیم ور کړ لو هر چا ته　　یو یو زیری د بهار

مګر ور ئې کړو پښتون ته　　دوه ښه زیری په یو وار

یو زیری ئې ما دی دی — چه هیواد شو لو گل زار
بل زیری معنوی دی — چه کواوېرې فتخار
هغه جوړ پښتونستان شو — چه یې ویاړي هر پښتون
هر پښتون شو پرې خوشحاله — د دښمن زړه شو زبون

د پښتون ادعا حق وه — ځکه خدای ئې مدد گار شو
په دښمن دآ زا دی نن — جوړ دخا ورو نه انبار شو
خپل حق ور سپړ پښتون ته — چه مو جب دا فتخار شو
پښتانه شول ټول خوشحاله — د دښمن زړه نا قرار شو

سور بیرغ ئې اوس ریپیږی — په تمامه پښتونخوا کښې
نور دخدای نه هم امید شته — چه اوچت شی ټول دنیا کښې

پښتو ور ونو را پیا ځیء — دوحدت ټول طالبان شیء
که دځان سعادت غواړیء — د معارف پلور روان شیء
دهیواد په ښکلی بڼ کښې — ځوک طوطی ځوک بلبلان شیء
د شیرین وطن په عشق بیا — د« فرهاد » پشان قربان شیء

دغماز مخ بیا هم تور کړیء — په وحدت او په غیرت خپل
زه «حسن» له خدایه غواړم — د پښتون شان او عظمت تل

❀ ❀ ❀

## پښتونستان جوړیږی

ښاغلی « رشتین »

زیری بهار نوی راوړی بلجهان جوړیږی — پښتونستان جوړیږی
بلبل سهر کښې وویل نوی دوران جوړیږی — پښتونستان جوړیږی

❀ ❀ ❀

بلبل د گل سره پرون دزړه گیراز کولو — نری ئې ساز کولو
په نرمه ژبه چغېده باغ و بوستان جوړیږی — پښتونستان جوړیږی

دروه له غرونو پورته کېږي انګازې دغسې        ښې اوازې دغسې
په پښتني ستورو روښان هغه آسمان جوړېږي        پښتونستان جوړېږي

❀ ❀ ❀

سره بېرغونه پښتونخوا کښې لوړوبرېږي        په سمه وغر رپېږي
دهسك په څنډو د برښنا نوی نشان جوړېږي        پښتونستان جوړېږي

❀ ❀ ❀

پښتانه وایي مونږ ژوندون په خپل اختیار کوونه        په خپل کار کوونه
کله مني شو چه پېښاور نه چه قادیان جوړېږي        پښتونستان جوړېږي

❀ ❀ ❀

ظلم و زیاتی د غلیمانو زیات له حده تېر شو        احمد میرویس ئې هېر شو
ظالم به مات حق به حاصل کړي فریدخان جوړېږي        پښتونستان جوړېږي

❀ ❀ ❀

پښتون د حق چیغه وښکلې ده په زوره سره        لاس کړي له وروره سره
په بد غلیم به د ګولیو باران جوړېږي        پښتونستان جوړېږي

❀ ❀ ❀

وزیر را غونډ شو جرګه کېږي اپریدیو سره        له اورکزیو سره
دغسې اورو کانې ګرم کښې میاروښان جوړېږي        پښتونستان جوړېږي

❀ ❀ ❀

په باجوړ کښې ترکاڼي نن خوشحالي دی تول        مومند غښتلی دی تول
دحق دپاره به ضرور د جنګ میدان جوړېږي        پښتونستان جوړېږي

❀ ❀ ❀

بیا په آسمان کښې ګړ و ګوړ برق و برښنا ښکاریږي        سره ئې فضا ښکاریږي
په اورنګزیب باندی غورځنګ ته خوشحال خان جوړېږي        پښتونستان جوړېږي

❀ ❀ ❀

پښتنو تول عمر کورونه د پردو جوړ کړي        بې له فایدو جوړ کړي
خونن په خپله د پښتون د کورسامان جوړېږي        پښتونستان جوړېږي

❀ ❀ ❀

پښتون وینیبږی په وینا ددي ځلمیانو باندی        په خپا دمانو باندی
درشتین «خولی» سره همدغسی بیان جوړېږي        پښتونستان جوړېږي

# نښانې دپښتنو دارتقا نن

ښاغلی «قاسم»

په کرم دالهی رب الاعلی نن　　　چه ویلي مو هغه شوله ربښتیا نن
دپښتون دتبر وینو اعتلا نن　　　په دښمن باندې ئې کړې استیلا نن
غلیمان ئې ځکه وینو وار خطا نن
چه قوت د پښتنو دی دوبالا نن

ښه‌ده، ښه چه هره‌شپې پسې سبا شته　　　تېې، توري تاریکۍ پسې رڼا شته
دهر رنځ دپاره رنګ په‌رنګ دواشته　　　که رب کاندې له‌دوا سره شفا شته
خپره ویښم پښتنو باندی رڼا نن
د زړه درد ئې موندلې ده شفا نن

په وحدت دپښتنو چه زه خبر یږم　　　لکه ګل دپسرلی هسې غوړیږم
له‌خوښۍ نه‌په جامو کښې نه‌ځائیږم　　　خبر یاله! ستاله ژبې نه ځاریږم
څه ښه زیری دې نن وکړلو په‌ما نن
شول دردونه مې په‌دا زیری دوا نن

خبر یال په خوږه ژبه وویلې　　　تېه، توره شپه آخر ته رسېدلې
دسحر نرۍ وږمه ده چلېدلې　　　د شفق رڼا افق کښې لګېدلې
د وحدت دلمر شغلې کا تجلا نن
پښتنو پر غلیم پر بو ښته بلا نن

پښتنو کړی قسم په ذوالجلال دی　　　چه‌قربان موسرو مال تر استقلال دی
دمونږ حق په‌ناروا سره پامال دی　　　آزادي مو میراثي پدري مال دی
مونږه آخلو خپل هغه حق دبابا نن
که په جنګوی، که په روغه، په رضا نن

تا چه ایښې دتېګۍ دغسې دام دی　　　ای غلیمه! دغه عقل خودې خام دی
پښتون کله نښلي لوموته ئې پام دی　　　دغفلت په‌خوب ویده کله داقام دی
پښتنا نه په غبرګو سترګو دی بینا نن
دژوندون په رموزاتو دی دانا نن

چه په ختمه، په نسب پښتون نژاد دی  په قامو نو کښې معروف قوی بنیاد دی
له آباؤ له اجدا دو نه آزاد دی  دجګړو، خرپ ودب سره معتاد دی

نه ئې دار اونه ئې ویره شته له چا نن
دغلیم د لاپو نه لری پروا نن

چه ئې پېر دپښتنې موردی رو دلې  هغو ده خپله پښتو کلکه سا تلې
آزا دی خپله ئې خپله ده ګټلې  نه تېرېږی له دغې مدعا خپلې

دمشرانو په تدبیر په توللی نن
تشکیل کړی ئې جرګې دی دشورا نن

دآزاد پښتونستان او وه ملیو نه  دی پیا وړی، ملا تړلی ښه مېړ ونه
جنګېږلی دی غلیم سره کلو نه  نن ئې زیات وینم قوت لاله پرو نه

نښا نې د پښتنو دار تقا نن
هر څوك وینی په دوو سترګو هویدا نن

په تدبیر، په ښه مېړا نه په غیرت خپل  پښتنو ځانته تشکیل کړ حکومت خپل
نوم ئې کړ «پښتونستان» دمملکت خپل  هم بیرغ ئې په دی نوم کړلو اوچت خپل

ار وید لی دا خبر تولې دنیا نن
طرفدار ئې وینم تول لاس په دعا نن

طرفدار چه څوك دحق دی داد عا کا  دپښتون دې رب حاصله مدعا کا
سر نګون دې شی هغه چه ناروا کا  دبل حق باندې تېری او تعدا کا

«قانع» هم وائی آمین په دادعا نن
په آمین، آمین ئې ختمه کړه وینا نن

❀ ❀ ❀

ښاغلی غلام محی الدین «ایوبی» اراکوزی

ای ځلمیه خلاص له بنده دا خپل ځان کړه
په لوړ همت سره هم جوړ پښتونستان کړه

راسه وغړ وه سترګی  دغی ښه او کینې خوا ته
ددی اوس عصر له رویه  ملتفت شه ودنیا ته
تولا فراد دنړی ګوره  چه روان دی و لوړ تیا ته

د وی خو لاده تو له مخکښې مګر ته شوی تنها یا ته
هله ژر یا څه ګو تې پو ری په در ما ن کړه
په لوړ همت سره هم جوړ پښتو نستا ن کړه

خلق تو له نن آ زا د شوه خپلې چا ری خپله کـا ندی
کچنې ؤ لو ی ئې و ا ړه و و طن ته صا د قا ن دی
هیڅ غفلت جها لت نه کړی غمشر یکه د خپل ځان دی
د جا معې و طن له یا ره په اور سوی پتنګـا ن دی
ته هم او س بیا د غه خپل هیوا د و دا ن کړه
په لو ړ همت سره ژر جو ړ پښتو نستا ن کړه

یهود ګو ره د عوه کـا ندی ځا ن له یا ر ه سلطنت
په دا عزم سره غوښې دی چه نن جو ړ کی یو دو لت
خپل د کـام نوم ؤ نښان ته تل و لا ړ د ی په خد مت
هسی سعیه کو ښښ کـا ندی چه ئې نه شته هیڅ غفلت
ښـه مـو قـع ده اوس لا لـوړ دغـه خپل شان کړه
پـه لوړ همت سره هـم جوړ پښتو نستان کړه

ژ ر و لا ړ شـه د ژ ړه سـر ه ته لا خلـه اوس آ رام ئې
د غـفـلت بـستـر ه پـر ېـږ ده کـه مین پـر وطـن کـام ئې
اتـحـا د اتـفـا ق تـینـګ کـه لـه نـفـا قـه تـل نـا کـام ئې
دغـه ژ ونـد کـښې فا یده نشته چـه بندی پـه لـو مه دام ئې
دښـه علم لـه یـر کته دغـه چاری تـول آسان کړه
پـه لـوړ همت سـر ه هـم جـوړ پښـتو نـستـان کړه

دپنـجاب قـا دیـا نیـا ن غـوا ړی چـه پـښتون د ځـان غـلا م کړی
پـر مذ هـب د قـا د یـا نی بیـا فسخه ښـه د یـن دا سلا م کړی
پـه خیل چال او په فر یب نـن دغـه تـو ل پښتو ن بد نـا م کړی
دغه و خت ا و س ر سید ا ـی چـه لودهریو بیاخپل کـام کړی
پښتو نـه تـه هم ښـکا ره خپل نام ؤ نښا ن کړه
پـه لـو ړ همت سره ژ ر جو ړ پښتو نستان کړه

د پښتون فطرتي حق دی — چه آزاد پښتونستان شي
ته خو هم کوښښ وکانده — چه قائد دی ملي ځوان شي
دنړۍ په لوړ کا مو کښې — دپښتون تبر ګا مران شي
« ایوبي » پښتون ته وائي — چه جدا له پاکستان شي

آزاد ژوند دی په نصیب رب المنان کړه
په لوړ همت سره ژر جوړ پښتونستان کړه

## دپښتونستان زیری

ښاغلي غلام قادر مسکین

شکر بیا دژمي شپه شوه سپین صبا — بیائي نوره تیاره شوه په مونږ رڼا
پسرلي ښه خلعتونه دي راوړي — ونو بوټو په ځان کړي ښنه قبا
ګل بوټو کښې د ګلخانګي ځړیدلي — په مستۍ ورته بلبلې کړي غوغا
په سبزو ښنیلیو دښتې دي فرش شوي — جشن جوړ د خوشحالۍ شو په بېدیا
دخزان او ژمي قید څخه چه خلاص شول — ورځ په ورځ وده کوي بوټي ګیا
پسرلي کښې خاصیت د آزادۍ دی — هریو شی نن حرکت کړي خامخا
آزادي ده لوی نعمت درب له لوري — چه شکران به ئي هېڅوك نه کړي ادا
ونې بوټي او ګیاه چه نمو کاندي — د انسان هم طبیعت دی لکه دا
هېڅ قید نه مني انسان دی که حیوان — که وحوش دي که طیور دي په صحرا
دنښتر او سبرو نې باغ کښې ګوره — چه آزاد دي دي ښه قد لري رسا
ځکه بار او څه تکلیف وربا ندې نشته — چه لوړ ېږي پورته ګېږي خوشنما
پښتنانه هم طبیعي آزادي غواړي — را به وړي لاس ته مشروعه مدعا
دسبز کال پسرلي زیری دي راوړي — پښتنو ته الهام کا داسي هرخوا
ه پښتون پښتونستان غواړي آزاد — ورك دي کاندي ځان ځاني د نفس هوا
په وحدت دي یو په بل لاس و نه ور کړي — اتفاق او تعاون دي کړي پېشوا
غرور غو کښې به دایم خوشحاله ژوند کا — په خپل واك به خپل وطن کښې وي هوسا
دپښتون د آزادۍ پسرلي راغي — لوړ به شي پښتونستان هم ئې لوا
دالهام کا پسرلي مو نږ ته مسکینه — وې منه کار دي وسپاره په مولا

# په پښتونستان کې مشاعره

ګوم وخت چه په باجوړ کې دپښتو نستان بیرغ پورته کېده نو دهغه ځای ځوتنو شاعرانو خپل احساسات څرګند کړي وو، څنګه چه ددوی آرزو ګاني دپښتونستان سره مستقیما اړه لري نوځکه دهغوی داشعارو ځینې نمونې دلته راوړو، چه مستقیما د پښتو نستانیانو د خوا هشاتو نمایندګي وکړي (اداره)

په ګل آباد دپښتونستان دباجوړ دچارمنګ ځانګې مرکز کښې دپښتونستان دبیرغ وچتولو په مناسبت دباجوړ دادیبانو مشاعره

ښاغلی محمد شعیب خانصاحب
د چهارنګ

پښتونستان د پښتون ژوندی خپل ژوندون لټوو ... مونږ له پردو اوله اغیارو خپل بیلتون لټوو
نن موبیرغ د آزادۍ او خپلواکۍ رپېږي ... د ټول پښتون د ننګ نښان او دسیالۍ رپېږي
دا دپښتون عزت ته لاره د سمون لټوو ... پښتونستان د پښتون ژوندی خپل ژوندون لټوو
نن په دنیا کښې آزادوسي ټول ژوندي قامونه ... په هر وطن کښې ښکاره کېږي خپل قومي توغونه
وطن کې قام ته آزادي آزاد ژوندون لټوو ... مونږ له پردو اوله اغیارو خپل بیلتون لټوو
دغه بیرغ دی لوی نښان د آزادۍ زمونږه ... ضامن د دنیا کښې دابیرغ دخپلواکۍ زمونږه
مونږ دوطن د آزادۍ ښکاره کیدون لټوو ... پښتونستان د پښتون ژوندی خپل ژوندون لټوو
پنجابي کړې ده دعوه زمونږ وطن کښې خپل ... خپل ځان بادار او مونږ مزدور ګڼي خپل
مونږه پښتون ته باداري اوښه ژوندون لټوو ... مونږ له پردو اوله اغیارو خپل بیلتون لټوو
ژبني توی کړي په وطن زمونږ پلرو نیکونو ... آزاد سپارلی دی په مونږ وطن پلرو نیکونو
مونږ هم ساتو وطن پښتون ته یو کیدون لټوو ... پښتونستان د پښتون ژوندی خپل ژوندون لټوو
پلرو نیکو موګذاره کړه په همت او غیرت ... وو که بوزي که بربنډ نه به بایلو دوی همت
هر یو پښتون ته له همت غیرت ته ګون لټوو ... مونږ له پردو اوله اغیاره خپل بیلتون لټوو

مونږ ه آزاد یو خپل وطن کښې غلامی نه منو — د پنجا بیا نو با داری او سلامی نه منو
مونږ د اغیارو د پنجی نه خلاصید ون لټوو — پښتونستان د پښتون ژوندی خپل ژوندون لټوو
په ننګ غیرت مووچت کړی دا بیرغ د پښتون — هم به یی ساتی تل د نیا کښې لوډ همت د پښتون
د غه بیرغ لاندې د ټول پښتون غونډون لټوو — مونږ له پردو او له اغیارو خپل بیلتون لټوو
خدایه پښتون لری آزاد او په عزت کړې مدام — زمونږ بدخوا لری ذلیل او په ذلت کړې مدام
دقام وطن د پاره ټل آزاد ژوندون لټوو — پښتونستان د پښتون ژوندی خپل ژوندون لټوو

## پښتونستان د پښتون ژوندی پښتانه ‌ی ‌ء غواړی

ښاغلی محمد انور خان «انور»

د ښار

پښتونستان د پښتون ژوند دی خپل ژوندون لټوو
مونږ پښتانه پښتونستان کښې خپل قانون لټوو
زمونږ ایمان وجدان بنا رشتیا په ننګ ناموس دی
په هره پانه د تاریخ کښې خود داری خائسته مضمون لټوو
دې پنجا بیا نو په دوستۍ کښې چه پښتون غړ قاوه
مونږه یی شو یوه په تګړن تری بیلتون لټوو
نه غلامان وو نه به شو نه غلامان یو د چا
مونږه هر وخت د غلامۍ نه خلاصیدون لټوو
خایسته ملت شیر ینه ژبه ښه دود نه لرو
په جد وجهد سره د خپل مسلك تنګون لټوو
د پښتنو غیرت ایمان د نور په شان ښکاره دی
د تحمل صبر نه پس به بل ترون لټوو
دا ترډی پرډی بیا کی پاکستان ولی کوی
مونږ خو خپل حق او آزادی د خپل ژوندون لټوو
پښتون جګ شوی دی په ننګ پښتونستان جوړوی
د ځان د پاره د عزت خوند ناك ژوندون لټوو
پښتونستان د پښتون ژوند دی پښتانه یی غواړی
وایی «انور» چه په امداد یی د بیچون لټوو

# د آزاد پښتونستان

ښاغلی محمد شریف خان «شریف» !

دا تمان خیلو

دادی د هرپښتون دآزادۍ او ننګ نشان   دا آزاد پښتونستان   داآزاد پښتونستان
آزادیو مونږ ګټلی دی آ زاد پښتو نستان   دا آزاد پښتو نستان   دآ زاد پښتونستان
داسوردی په‌سرو وینو پښتنو وطن ساتلی دی   دشمن بی تري شړلی دی   هروخت په‌هرمیدان
اوس به‌هم شړو مونږ له خپل باغه‌تور زاغان   دآ زاد پښتو نستان   دآزاد پښتو نستان
دا بیرغ دی لوی نشان د پښتنو د آزادۍ   ددوی دخپلوا کۍ   رپیږی په هوا کې
ځر کندبه کړی دنیا ته بیازمونږ نام ونشان   دا آزاد پښتو نستان   دآزاد پښتونستان
جګ کړی دابیرغ دی مونږ په‌خپل ننګ اوغیرت   لروځان کې همت   د ده د لو دو لو
ساتوئی په‌خپلو وینو زمونږ وینی تري قربان   داآزاد پښتونستان   دآزاد پښتو نستان
آز ا دیو مو نږ نه منو دهیڅ غلا می   غلامی ده‌بدنامی   دپاره‌داسلام دپاره‌دانسان
دخپلی آز ادۍ کوو، دنیاته مونږ اعلا ن   دآزاد پښتو نستان   دآزاد پښتو نستان
مونږ ټول مسلما نان یو پښتا نه یوبیا په قیام   منلی مو نږ اسلام   په رشتیا اوصدا قت
مشران منلی نه‌شو قا دیا نان اوپنجا بیان   د آزاد پښتو نستان   دآزاد پښتو نستان
پښتون غیرتی قیام دی‌غاده نه‌زدی رقیبا نو ته   د کفر نائبا نو ته   دوی په‌خپل وطن کښي
پښتون‌همیش آزاددی‌نه‌منی دچا پردی فرمان   داآزاد پښتونستان   داآزاد پښتونستان
لود دي دا بیرغ وی همیشه ټوله د نیا کښي   په‌ټوله‌پښتون‌خواکی   په‌سیمه د پښتون
دا ځکه چه بیرغ دی د اسلام او مسلمان   داآزاد پښتونستان   داآزادپښتونستان
زه «شریف» کومه په هر وخت ده ته تعظیم   سلام اوهم تکریم   په د پر اخلاص
دی به‌لوړ ساتـه‌مسر اومال‌مې‌دی‌ځنی قربان   دآزاد پښتو نستان   د آزا پښتو نستان

## تل خپل بیرغ دپښتون کور کښې په ځلاو لرې!

بناغلی محمد گلاب خان — دچهار منګ

دغه نشان دپښتون خدا په تل بالا و لري
په خپل رحمت تروتزه یی لکه لاله ولري

مو نبز ځان ځانی کړلو برباد ته اتفاق را ولی
په ځان ځانی بی اتفاقی لو یه بلا ولري

نن تول قامونه په وطن کي خپل نظام جوړوی
خدا یه پښتون قام په تنظیم تول یو سلا ولري

تول پښتانه کوی وحدت قومی حکومت جوړوی
تل خپل بیرغ دپښتون کور کښي په ځلا ولري

دپښتنو تولی تپی دژ وند په راز پو هیدلی
دخپل آزاد حکومت احساس پکښی رشتیا ولري

په تول وطن کی چه قومی جرگی تو لنی کیږی
دادوطن دآزادی تنکون زیات له نن صبا ولري

بی تنظمی دهر یو قام دتنزل علت دی
زمو نبزه له قامه بی نظمي نوره جدا ولري

دخپل وطن مو نبزه نظام او انتظام جوړ وو
زمونبز مشران پوهان په دي کار تول سلاولري

دپښتنو دبد بختی دوره وتلی ده
خدا یه پښتون آزاد نیک بخته په دنیا ولري

تل آزادی او خپل حکومت دنیك بختی سبب وی
دپښتنو دآزادی، خپل حکومت تل پاك اله ولري

مونبزه ځوانان یو پوهیدلی دوطن کړو خدمت
تول پښتانه خدا یه «گلاب» سره تینګه ملا ولري

## هغه ويښ هغه زلمی هغه پښتون دی

ښاغلی شموزو ملاصاحب

مناسب دهر پښتون د پاره دادی
د پښتون عادت پښتوده پښتون واله
هر پښتون ته نن خدمت دځان په کاردی
نه دی ويښ نه دی عالم نه څه پښتون
پابندی دې دخپل دين او نسب وکړی
ملیت او قومیت ساتل روا دی
د پښتون نه چه ناموس د پښتو لاړ شی
هغه ويښ، هغه ځلمی هغه پښتون دی
ويښ ځلمی غواړی پښتون څخه د اننګ
ای «مسکينه» د پښتون غيرت بيان کړه

د شموزو

چه خيانت دی دخپل قوم او وطن نکړی
منافق په شان دې دا او هغه نکړی
بيا په وخت کښې دانعام چه ارمان نکړی
خپل پردی چه سره يو کړی فرق و نکړی
پنجابو په خير پښتون بيبا کی نکړی
که پردی هرڅه کوی زمونږ سپکه دی نکړی
که په زړو ځان ښائسته کړی مزه نکړی
چه دی غم دخپل قوم خوری او نور څه نکړی
پښتون خواشی د پښتون سستی دی نکړی
چه ترې ننګ واخلی پښتون بی ننګی نکړی

## مبارک دې شه پښتونه دا بيرغ دی د پښتون

ښاغلی فضل واحد خان

مونږ پښتانه يو دا بيرغ زمونږه دی
نن د پښتون بيرغ وچت کړ لو جان
مبارک دې شه پښتونه دا بيرغ دی د پښتون
نن د پښتون بيرغ ځليږی وچت
بيدار وسه پښتونه دعزت وخت دی راغلی
دغيرت توره پښتونه وبا سه توره له تيکی
ښه کاريږی په وطن کښې نن ښائسته قومی توغونه
کوی تول مشران دخپل قامونو خدمتونه
ورنه اتفاق کوی په غونډه ګل آبادله راځی
جان دی زمونږه خير خوا مشر د قام
فضل واحد کوی دعا کامياب غواړی پښتون

دچهار منګ

نشان داد پښتو او د غيرت زمونږه دی
وچت کړ لو جان بخت بيدار زمونږه دی
دا بيرغ دی د پښتون، لوړ نشان زمونږه دی
ځليږی وچت، قام کامياب زمونږه دی
دعزت وخت دی راغلی، ښه دوران زمونږه دی
وباسه توره له تيکی، حق حصار زمونږه دی
ښائسته قومی طوغونه، وطن آزاد زمونږه دی
کړی زمونږه خدمتونه جان سردار زمونږه دی
ګل آباد له راځی دا افتخار زمونږه دی
خير خوا مشر د قام، غمخوار زمونږه دی
کامياب غواړی پښتون دا سوال زمونږه دی

## پښتونه وینی شه پښتنوله گلستان جوړ وو

شاغلی فضل رحمان

دسره کمرد کتابګه پانه

پښتو نه وینی شه پښتنو له گلستان جوړ وو
دبهادری په توره مونږ پښتو نستان جوړ وو

شه مبارك پښتو نستان د پښتنو د پاره
د خپلو ورنو پښتنو لویو و دو د پاره
ځان کهمالیار هردم تیارچه دانو ستان جوړ وو
پښتو نه وینی شه پښتنو گلستان جوړ وو

پرهروطن کښې دی وچت دتوری شرنګ د پښتون
ټولو قامونو کښې مشهوردی نام وننګ دپښتون
ولی به مونږ داصیل ځانه غلامان جوړ وو
دبها دری په توره مونږ پښتو نستان جوړ وو

مونږ پښتانه پښتونستان آزادحکومت جوړوو
دخدای قران باندی عمل لیار دشریعت جوړ وو
دانګریزی قانون نه خلاص پښتو نستان جوړ وو
پښتونه وینی شه پښتنو له گلستان جوړ وو

خدای منعه کړی دی د کفرحکومت په مسلم
کله جائز دی په انګریزی قانون حکومت په مسلم
په خپل وطن کښې مونږ قانون دمسلمان جوړ وو
دبها دری په توره مونږ پښتو نستان جوړ وو

مونږ دانګریز په قانون جوړ داپاکستان نه منو
چه دانګریز دوفاداری قسم کوی دامسلمان نه منو
په اسلامی قانون بنا پښتو نستان جوړ وو
پښتو نه وینی شه پښتنو له گلستان جوړ وو

## جوړ وو پښتو نستان پښتا نه واړه

بناغلی عمادالدین خان

دسره کړد زیا رتد کلو

د اتفاق دې د پښتو ن الله نصیب کړی
د بدخواه شپه دې الله کړی په وېجاړه

د پښتون بې اتفاقی چه کوم خوك غواړي
مختو ر ن دې په د نیا شی همه واړه

د پسر دو له حکمو متـه پنـا ه غواړو...
جـو ړ و و پښتو نستـا ن پښتا نـه واړه

تـل پښتون دې وی آزاد او په عزت کې
سپك او ورك دی وی بدخواه خونه و یجاړه

ترقی دې پـه برخه د پښتون کړی
په دنیا په آخرت کښې بـاره دواړه

د غفلت لـه خو به وېښ شه ای پښتو نـه
آزاد او سـه آزادی همیشـه غـواړه

غلامی چـه د هیچـا کو ره ونکړی
د پښتون نـو کړی بـل کړی عمر واړه

پـه او که پوری دبـل کښل دمیا شتی
دا مثال دی د نخاس خر خول واړه

ننګ غیرت دور ور ولی و که پښتو نه
چه خپل خان وانه چوی اورته په لاس دواړه

د صاحب حق عماد الدین دغه آرزو ده
چه قربان کړی له وطن سرو مال دواړه

## قوم ته د پښتونستان د بیرغ تبریك

ښاغلی نعمت الله :          د ماهمندو

نن پښتانه په ګل آباد قومي نشان جوړوي
پښتونستان ځمونږ نشان د آزادۍ جوړیږي
په ګل آباد د اتحاد ننګ افغان جوړوي
زاغله ښادي شوه آزادي مونږ اسارة نمنو
پښتانه ځان له آزادۍ باغ بوستان جوړوي
پښتونستان روحي اعلان خور په جهان شلونن
پښتانه ځکه نن مزار د خوشحال خان جوړوي
پغرونو باد د اتحاد د پښتو الوتلی
د سر بیرغ لاندې نن بیا د عزةشان جوړوي
پښتونستان د پښتون باغ پکښې زاغان نمني
ځکه دنیا ته په آزاده خوله اعلان ور کوي
بیرغ ئې پرته په مرکز د نامو ننګ کړلونن
د عشق و ورد پتنګ کوردي ور ته ځان جوړوي
د باغ بلبلونن پکلو څه ناري وهلي
وائې ځمونږ آزادي له ګلستان جوړوي
یا څه پښتو نه پښتنواله لیاقت و ګټه
نن د دنیا قومونه ټول ښایست د ځان جوړوي
پښتونن د پښتنوالي سپینه لار و لیده
په ګانو بوتو د سرحد کښې باغستان جوړوي
پښتونه حال د ابدالي او د خوشحال او ګوره
داسې تدبیر د آزادۍ به ور ته جان جوړوي
ګیده پسر تاج د هنر لعل جوهر پښتونه
وایه قومونه د هنر لعل و مرجان جوړوي
لک و ګړه پام چه ستا غلام د تنګۍ دام خور کړي
نعمت الله ځکه د خپل ګریبان ور کړي

دا با ګانو پمیراث پښتونستان جوړوي
ځکه ځمونږ پسر بیرغ د آزادۍ خوزیږي
نن پښتانه په ګل آباد قومي نشان جوړوي
د پا ګستان دغلا مانو سره وحدت نمنو
نن پښتانه په ګل آباد قومي نشان جوړوي
په مردګان جوندي زوانان د ګورستان شلونن
نن پښتانه په ګل آباد قومي میدان جوړوي
هر یو پښتون تر ید ماغ کښې اثرمندلي
نن پښتانه په ګل آباد قومي نشان جوړوي
د آزادۍ پکور کښې ځان سره غلامان نه مني
نن پښتانه په ګل آباد قومي نشان جوړوي
هر یو پښتون په پښتنواله ځان پتننګ کړلونن
نن پښتانه په ګل آباد قومي نشان جوړوي
د پښتنو روح ئې ډیرې په نیکۍ ستایلي
نن پښتانه په ګل آباد قومي نشان جوړوي
میراث د پلار او د نیکه خپل حریت و ګټه
نن پښتانه په ګل آباد قومي میدان جوړوي
پمیراثې باغ ئې و ګمه د نوبهار و لیده
نن پښتانه په ګل آباد قومي نشان جوړري
ځان ګړه پتنګ د نام ننګ جاه جلال و ګوره
نن پښتانه په ګل آباد قومي نشان جوړوي
مه دربدر ګرزه لروبر خاوري پسر پښتونه
نن پښتانه په ګل آباد قومي نشان جوړوي
د دین پنام ستا ور ګوالي نه مقام ور کړي
نن پښتانه په ګل آباد قومي نشان جوړوي

« یارسول الله ص! څه وولی نه ژاړم ؟ وګوری ، چه د تش تور ګټ مخ پر یو نخمی ستاسو پمبارک وجود باندي له ورا ښکاری . ستاسو د اسبابو اود سامانو دکوټی وضعیت خو همدغه دی چه له ورا ښکاری . ( قیصر ) او ( کسری ) [ پخپل عیش اوعشرت کښ مشغول دی او] د باغ اود بهار خوند ونه او مزی اخلی - او تاسی چه د الله تعالی رسول او استاځی یئ ، ستاسی د کور اود ژوندانه دغه حالت او کیفیت دی! »

( حضرت محمد رسول الله ص ) دده پجواب کښ دغسی ارشاد وفرمایه چه :

« اي دخطاب ځویه ! آیا ته پدي باندي خوښ او خوشال »

« نه ئي چه هغوی د نیا واخلی (۱) او مونږ آخرت ؟ »

# د حضرت محمد رسول الله صلی الله تعالی علیه وعلی آله وأصحابه وسلم مساوات خوښول

د ( حضرت محمد رسول الله ص ) پمبارك نظر کښ فقیر او امیر - صغیر او کبیر خدمتګار او بادار - [ ښاری او دهاتی الغرض ټول انسانان ] یو برابر او یو شان وو . ( حضرت سلمان رض ) ( حضرت صهیب رض ) ( حضرت بلال رض ) چه پر دغو ټولو باندی د مریتوب دوري تېری شوی دی خو سره دهغه ددوی قرب او منزلت د ( حضرت نبوی ص ) پدربار کښ د قریشی امراؤ اورؤساؤ او مشرانو څخه لبز نه و .

یوه ورځ ( حضرت سلمان رض ) او ( حضرت بلال رض ) په یوه ځای کښ دواړه سره یوځای ناست وو اتفاقا هلته د ( ابو سفیان ) ګزر وشو ، نو دوی دغسی وویل چه :

« تر دغه وقته پوری د اسلامی توری قبضه ددغه عدوالله پر غاړه باندی نه ده شوی »

( حضرت ابوبکر الصدیق رض ) دغو خلقونه دغسی و ویل چه :

« آیا تاسو دقریشو دسردار اومشر په نسبت دغسی خبری کوئ ؟ »

بیا د ( حضرت نبوی ص ) پحضور مشرف اودغه واقعه ئې بیان کړه .

( حضرت ص ) ددغی واقعی د اورېدلو په اثر ( حضرت صدیق رض ) ته دغسی ارشاد و فرمایه چه :

« آیا دغه خلق خوله تاته خپه شوی نه دی ؟ که دغه خلق له تا نه »

« خپه او ناراضه شوی وی نو الله تعالی به هم له تانه نا رضاء شوی وی »

نو ( حضرت ابو بکر الصدیق رض ) علی الفور هغویته ورغی او له هغو بزرګانو څخه ئې دغسی پوښتنه وکوله چه :

« وورنوا : آیا تاسو خوله ما څخه خپه او ناراضه شوي نه یئ ؟ » . هغوی و ویل چه :

« یه امونږ له تانه خپه اوناراضه نه یو - الله تعالی دي تاوبښی اومغفرت دی په برخه شی ! (۲) »

---

(۱) : په (صحیح مسلم شریف ) کښ کتاب الطلاق باب تخییر الازواج اوځمونږ ددغه « سیرة النبی » ۳۸۰ مخ وګوری !

(۲) : په ( صحیح مسلم شریف ) کښ دحضرت سلمان رض اود حضرت صهیب رض فضائل وګوری !

• د ( قریشو ) د ( مخزوم ) د قبیلې یوه مشره ښځه په غلا کښې ونیوله شوه ، دخلقو له خوا ( حضرت اسامه بن زید رض ) چه د ( حضرت محمد رسول‌الله ص ) په ډېره یوري یومقرب محبوب ؤ دشفیع اوسپارښتګر پشان ورو وړه اندې کړ شو - ( حضرت ص ) لدغه و ضعیت څخه سخت متأ ثر شو او ( اسامة رض ) ته‌ئې دغسې وفرمايل چه :

« آیا ته‌د الله تعالی پمقرر کړی شویو حدودو کښې هم شفاعت او سپارښت کوې ؟ »

بیائې تول خلق راتول کړل او هغویته ئې دغسې ارشاد و فرمایه :

« هومره اقوام اوامم چه‌له تاسو څخه پخوا تباه او برباد شوی دی دهغه سبب خو همدغه وچه دغټانو او مشرانو له جرائمو به‌ئې سترګې پټولې - اوله هغوی سره به‌ئې اغماض او تسا مح کاوه اوپر کشر انو او معمولیو سړ یو باندې به‌احکام جاری کېدل . په‌الله تعالی باندې قسم یادوم که‌دمحمد‌لور فاطمه‌هم غلاو کړی نو به‌دخپ، لور لاس هم دغلا کولو پتقدیر پرې کوم (۱) »

( د بدر ) په غزا کښې له نورو بندیانو سره د ( حضرت محمد رسول الله ص ) معظم عم ا و تره ( حضرت عباس رض ) [ چه لاپا‌سلام نه‌و مشرف شوی ] هم‌بندی را وستلی شوی‌و - ددغو بندیانو په‌نسبت دغسې تصویب شوی‌و چه‌هر هغه بندی چه خپله فدیه ور کړی خو شی دې شی ! د لته ځینې ښو زړو انصارو پدغې ملاحظې چه‌هغه له حضرت ص ) سره ژړدی تعلقات ا و خپلوی اري( له حضرت سید الا برار ص ) څخه دغسې استدعاه و کوله چه :

« یا رسول الله ! اجازه را کړی ، ! چه مونږ دخپل ددغه خوریی »

« (عباس) فدیه‌ورو بښو اریه‌ورپا اومجانی‌دول سره‌ئې خوشی کړو ! »

خو ( حضرت ص ) دغسې ارشاد وفرمایه چه :

« په ! یو درم هم مه ورته پرېږدی‌ء ! اوله‌سره‌ئې بې له فدیې مه خوشی کوی‌ء ! (۲) »

هرشی چه د ( حضرت محمدرسول‌الله ص ) په مجلس کښې تقسیمېدل نو به له ښۍ طرفه شروع کېده اوپدغه ویش او تقسیم کښې به فقیر اوامیر - صغیر او کبیر اونور سره مساوی او برابر وو - او د عدل او مساوات ملاحظه به‌پکښې کېده .

یوه ورځ ( حضرت محمدرسول‌الله ص ) دخپلو ( اصحاب الکرامو رض ) په لویه مجمع اومجلس کښې تشریف درلود - دلته د ( حضرت نبوی ص ) بخدمت کښې له کوم ځایه څه شو دی وراهداء شوی چه ( حضرت ص ) له هغه څخه لږ څه وڅښلې ، اتفاقا د ( حضرت ص ) په ښۍ خوا کښې ( حضرت عبدالله بن عباس رض ) تشریف درلود چه له ټولو څخه په عمر کښې وړوکی و - اوپه کیڼه خوا کښې‌ئې اوی‌لوی او سپین ږیري اصحاب تشریف درلود .

( حضرت نبوی ص ) له ( عبدالله رض ) څخه اجازه و غوښته چه :

« پدغو شودو داولیت حق خو دتا دی خو ښه‌نکه چه په کیڼه »

« خوا کښې‌سپین ږیری ناست دی ته‌خپل دغه حق هغوی ته وروبښه ! »

(۱) : په (صحیح بخاری‌شریف) او (صحیح‌مسلم‌شریف) او (ابوداؤد) کښې کتاب الحدود وګوری‌ء !

(۲) : په ( صحیح بخاری شریف ) کښې باب فداء المشر کین اود همدغه « سیرةالنبی » د اول جلد په ( ۲۲۸ ) مخ کښې ئې و ګوری‌ء !

( عبدالله رض ) مؤدبانه عرض وکړ چه :

« زه بدغې عطیې کښې له سره څه ایثار نشم کولای » .

څرنګه چه دغه ( عبدالله رض ) دمجلس په ښۍ خوا کښې ناست و ـ اود مجلس د ترتیب له مخې حق هم دهمهغه و نو ( حضرت ص ) هم‌همهغه ته ترجیح ورکړه (۱) :

( حضرت انس رض ) بیان کوی چه ( حضرت محمدرسول‌الله ص ) یوه ورځ زمانږ کره تشریف در لود چه په ښۍ خوا کښې ئې یوبدو اوپه کیڼې خوا کښې ئې ( حضرت ابوبکرالصدیق رض ) او ورسره مخا مخ ( حضرت عمرالفاروق رض ) ناست وو ـ دلته (حضرت ص) د څښلواوبه وغوښتې ـ ماداوبو ځای د ( حضرت ص ) پحضور کښې داوزه شودې ور وړاندې کړی چه ( حضرت ص ) څه له هغو څخه وڅښلې او غوښت ئې چه نوری خپلو ملګریوته ورعطاء کړی .

( حضرت عمر رض ) د ( حضرت ابوبکرالصدیق رض ) په لوری اشاره وکړه چه دغه پاتې شودې دې هغه ته ورعنایت شی !

( حضرت ص ) وفرمایل چه « بدوهبی د ښۍ لاس د سړی حق دی » اوله دغې وینا سره ئې متصله هغه پاتې شودې همهغه بدواوصحرائی سړی ته ورعنایت کړی . (۲)

( قریش ) به دخپل فخر او امتیاز له سببه د ( حج ) پمواقعو کښې د ( عرفات ) پځای په ( مزدلفی ) کښې دریدل ( حضرت محمدرسول‌الله ص ) دغه تفریق او امتیاز نه خوښاوه ـ له بعثت څخه پخوا (۳) او له بعثت څخه وروسته (٤) تـل به ( حضرت ص ) له عامو خلقو سره یوځای دریدل .

علاوه پردی دغه کار ئی هم نه خوښېده چه ( حضرت ص ) په یوه اوږد اوهتمایز اوبکاره ځای کښې دخلقو پمنځکښې ودریږی یا چیری چه اوسیږی هلته دې پری سیوری وکړ شی یا کومه څیره دې هلته ورته جوړه کړه شی .

کله چه ( اصحاب‌الکرام ـ رض ) ددغو شیانو تجاویز ( حضرت ص ) ته ور وړاندې کړل ـ نو ( حضرت نبوی ص ) دعسې ارشاد وفرمایه چه :

« هرڅوك چه دمخه ورشی اوځای ونیسی همهغه ځای دهمهغه دی » . (٥)

کله به چه ( اصحاب‌الکرام رض ) په مجموعی ډول سره په کوم کار کښې مشغولیدل نو ( حضرت محمدرسول‌الله ص ) به هم له هغوی سره شریکېده اود معمولی مزدورانو پهشان به ئې لههغوی سره کار کاوه .

کله چه ( حضرت ص ) اول ځلی ( مدینې منوری ) ته هجرت وفرمایه له ګردو څخه دده لومړی کار دمساجدو تعمیرو ـ لکه چه ( حضرت نبوی ص ) د [ مسجدالقباء ] او د مسجدالنبوی ص په تعمیر کښې ئې لکه نور اصحاب بالذات اشتراك فرمایه ـ اوپخپل مبارك لاس سره ئې خښتې او خاوری راوړی .

---

(۱) : په ( صحیح بخاری شریف ) کښې (۸۸۰) مخ وګوری !

(۲) : د ( صحیح بخاری شریف ) ۳۵۰ مخ وګوری !

(۳) : په ( ابوداؤد ) کښې کتاب المناسك وګوری !

(٤) : په ( ابو داؤد ) کښې کتاب‌المناسك وګوری .

(٥) : د ( ابن حنبل رح ) دمسند د(٦) جلد ۱۸۷ مخ وګوری !

( اصحاب‌الکرامو رض ) به خو خو محلی د(حضرت‌ص) بحضور کښ دغسې عرائض وړاندې کول چه :
« محمونږ مخانونه دي له تاسو څخه جار او واری شی ! تاسو پرخپل محان باندي زحمت مه‌کالی ! »
« لیکن ( حضرت ص ) به له کار کولو څخه‌لاس نه اخیسته (۱) »
« [ او برابر به ئی له خپلو اصحابو سره کار کاوه . ] »

د ( احزاب ) دغزا پموقعکښ چه وقت چه ټول ( اصحاب‌الکرام رض ) د( مدینې منوری ) په چپ چاپیر کښ په ( خندق ) کښنو دلو مصروف وو ، ( حضرت محمدرسول‌الله ص ) هم لـه هغوی سره سم په کار کښ مشغول و [ اود یوه ادنی مزدور پشان ئی کلنګ واهه اوپه یوم سره به ئی خاوری او شګی دباندې غورځولی ] تردې چه دده پر مبارك جسم باندې دپرې خاوري اودوړی تینګی نښتي وی (۲) .

په یوه سفر کښ دوړی نه وه تیاره ـ نو ټولو ( اصحاب‌الکرامو رض ) د خوزاك دتهیې اوتیارولو ترتیبات ونیول ـ اوهریوه یونه یو کار پخپله غاړه واخیست ـ پدغه مځکښ (حضرت محمدرسول‌الله ص ) خس ټولول او بوټی راوړل ئی پخپله ذمه واخیستل .

( اصحاب‌الکرامو رض ) عرض وکړ چه :
« دغه ټول کارونه مونږ خدامو ته را پرېږدی ! اوتاسو استراحت وفرمایی . »
( حضرت نبوی ص ) دهغوی پجواب کښ دغسې ارشاد وفرمایه چه .
« تاسو به وایی ، لیکن ماته دغه خبره ښه نه ښکاری اونه غواړم »
« [ چه دملګرو نوب په کارو کښ] خپل محان بېل اوممتاز وبولم »
« ولی چه الله تعالی هغه‌بنده نه‌خوښوی چه‌دی خپل‌محان له خپلو نورو »
« ملګرو څخه ممتاز وګڼی او محان ته دوی څخه ښه وبولی (۳) »

د ( بدر ) د غزا پموقعکښ څرنګه چه نقلیه وسائل له مسلمانانو سره ډېر لږ و ، نو د درو تنو مجاهدینو پمنځکښ یو یواوښ وېشلی شوی و چه‌پر همهغه یوه اوښ باندی به دری دری‌تنه مجاهدین پـه نوبت‌سره سورېدل پدغه ضمن کښ ( حضرت محمد رسول الله ص ) هم لکه عام مجاهدینو په‌یوه اوښ له‌خپلو دوو تنو نورو ملګرو سره شریك و . د ( حضرت ص ) ملګرو به په ډېر اخلاص او خلوصیت سره خپل وار اونوبت ( حضرت ص ) ته پرېښود . او دغسې عرائض به‌ئی ور وړاندی کول چه :
« یا رسول الله ص! مونږ له‌تاسو څخه واری اوجار شو تاسو پر خپل »
« اوښ سپور شی ! مونږ پخپلو پښو ستاسی تر رکاب محو (٤) »
لیکن ( حضرت ص ) به دویته دغسې ارشاد وفرمایه چه :

« نه‌تاسو محماڅخه زیاد پلی اوپیاده تګ کولی شی »
« اونه محه له تاسو څخه د لږ ثواب محتاج یم (۱) »

(۱) : په ( صحیح بخاری شریف ) کښ باب‌الهجرة وبناء المسجد وګوری !
او محمونږ ددغه سیرة‌النبی (۱۸۵) مخ‌وګوری !
(۲) : په ( صحیح بخاری شریف ) کښ باب غزوة الاحزاب وګوری !
اومحمونږ دهمدغه سیرة‌النبی ۲۹۳ مخ وګوری !
(۳) : د ( زرقانی ) (٤) جلد ( ۳۰٦ ) مخ د ( محب طبری ) دسیرة په حواله . خو دغه روایت په نورو کتابو کښ نه دی کتلی شوی .
( ٤ ) : ( ابن حنبل رح ) د مسند داول جلد ٤۲۲ مخ او د ابوداؤد الطیالسی مسند وګوری !

# دحضرت محمد رسول الله ص تواضع

تواضع اوانکسار د ( حضرت سید الابرار ) له خصائصو اوکارڅخه و .

د کور او کهول کارونه به ( حضرت ص ) پخپله اجراء فرمایله. خپلو کالی به ئی پخپله پیوندول - د کور صفائی به پخپله اجرا فرمایله - شودی به ئی پخپله لوشلی. له بازار څخه به ئی سودا پخپله اخیستله - که څپلی ئی شکیده پخپله به ئی گنډله - پرخره باندی هم سپریده - او عار به تری نه فرمایله - له غلامانو او مسکینانو سره به کیناسته اوله هغوی سره به ئی ډوډی هم تناول فرمایله او ځان به ئی تری نه ژغوره . (۱)

یوه ورځ کله چه ( حضرت ص ) له خپله کوره ووت خلق ددوی مخی ته ودریدل - ( حضرت نبوی ص ) دغسی ارشاد وفرمایه چه :

« دعجمیانو په شان ځما د تعظیم لپاره مه دریږئ ! (۲) »

که به د یر خوار او غریب سړی هم مریض او رنځور کیده نو دهغه د عیادت او پوښتنی لپاره به ئی تشریف وړ .

دمفلسانو او فقیرانو کره به یی چه تشریف وړ ، له هغوی سره به همغلته کیناسته .

له ( اصحاب الکرامو رض ) سره د کیناستلو پوقتکښ ده څه امتیازی حیثیت نه درلود چه پهغه سره د ه له نورو څخه وپیژندل شی .

که ( حضرت نبوی ص ) کوم مجلس یا مجمع ته تشریف ووړ - هرچیری چه به ئی ځای موندہ کاوه همغلته به کیناسته ( ۳ )

یوه ورځ یو سړی د ( حضرت محمد رسول الله ص ) د ملاقات په غرض تشریف راوړ - کله ئی چه سترګی پر ( حضرت ص ) باندی ولګیدی ، ووپرید او ولړځید او سخت مرعوب شو .

( حضرت نبوی ص ) ورته وویل چه :

« مه وېرېږه ! ځه خو پرښته نه یم ! بلکه انسان او د یوی »

« قریشی ښځی ځوی یم چه وچه غوښه به ئی پخوله اوخوړله (٤) »

---

( ۱ ) : د ( ترمذی شمائل ) وګوری !

( ۲ ) : ( ابوداؤد ) او ( ابن ماجه ) وګوری !

( ۳ ) : د ( ترمذی شمائل ) وګوری !

( ٤ ) : د ( ترمذی شمائل ) وګوری !

د تواضع - انکسار او خاکسارۍ له سببه به (حضرت نبوی ص) په دوو پښو پر ډوډۍ کیناسته اودغسې ارشاد به ئې فرمایه چه :

« زه د بندګانو پشان کینم او دبندګانو پشان ډوډۍ خورم . »

یوه ورځ د ډوډۍ پموقعکښې ځای تنګک و اوخلق ډېر راغلل نو ( حضرت ص ) پردوو پښو کیناست
څو نورو ته هم ځای پیدا شي . پدغه مجلس کښې یوبدو او صحرائي سړی هم ناست و ، نوهغه وویل چه :

« ای محمده ! دغه څرنګه کیناستل دي ؟ »

( حضرت نبوی ص ) د هغه پجوابکښې دغسې ارشاد وفرمایه چه :

« زه خاکسار اوعاجز بنده یم - دسر کښې اوجباریت لپاره نه یم پیدا شوی ! (۱) »

دغه خو انتهائي تواضع او انکسار دی چه ( حضرت محمد رسول الله ص ) به دخپل ځان په نسبت
جائز تعظیمي الفاظ هم نه خوښول .

یو ځلې یوه سړی ( حضرت نبوی ص ) ته دغسې خطاب وکړ چه :

« ای زمونږ آغا اوبادار ! ای زمونږ د آغا او بادار زویه ! اي زمو نږ »

« له ټولو ښه غوره اوبهتره ! اي زمونږ له ټولو ښه دبهتر اودغوره زویه ! »

( حضرت محمد رسول الله ص ) ددغسې خطاب داوریدلو په اثر هغه سړی ته دغسې وویل چه :

« له الله تعالی څخه ووېرېږه اوپرهیزګار شه ! وګوره چه شیطان »

« دي [ په کومې کندې کښې ] ونه غورځوی . زه دعبدالله زوی »

« محمدیم - دالله تعالی بنده اودهغه رسول او استاځی یم کومه درجه »

« او مرتبه چه ماته الله تعالی رابښلې ده ، زه همهغه رتبه خوښوم - »

« نه مې له هغه څخه زیاد مه غتوه ! [ اومه مې ستایه ! ] ( ۲ ) »

یو کرة یوه سړی ( حضرت محمد رسول الله ص ) ته په ،

« یا خیر البریه = ای د مخلوقاتو بهتره ! » سره خطاب وکړ .

( حضرت ص ) وفرمایل چه هغه خو حضرت ابراهیم [ خلیل الله ع ] و (۳)

( حضرت عبدالله بن سخیر رض ) روایت کوی ، کله چه مونږ د ( بنی عامر ) له سفارت سره یوځای
د ( حضرت محمد رسول الله ص ) پحضور مشرف شو نوله (حضرت ص) سره مو یدغسې تعظیمي الفاظو سره
مخاطبه وکړه چه :

« تاسي خو زمونږ سید آغا او سردار یئ ! »

( حضرت ص ) ارشاد وفرمایه چه « سید » خو الله تعالی دی ! »

بیا مونږ دغسې عرض وکړ چه :

« تاسي خو زمونږ له کردو څخه افضل اوله ټولو څخه خورا لوړ یئ ! »

( حضرت ص ) دغسې ارشاد وفرمایه چه :

---

( ۱ ) : په ( ابوداؤد ) کښې کتاب الاطعمه وګورئ ! .

( ۲ ) : په (صحیح مسلم شریف) کښې باب فضائل ابراهیم ع وګورئ !

( ۳ ) : ( ابن حنبل رح ) دمسند داول جلد ۱۵۳ مخ وګورئ !

« هره خبره چه کوی، ښه ئي وسنجوی، او ښه پکښې فکر »
« ووهی، ! نه چه شیطان مو په بې لیاری بوځی ! ( ۱ ) »

په ( مدینې منوری ) کښې یوه ښځه وه چه د هغې دماغ او ماغزه خراب شوی وه . دغه ښځه یوه ورځ د ( حضرت محمد رسول‌الله ص ) بحضور مشرفه شوه او وې ویل چه :

« اي محمده ! ځه تا سره څه کار لرم :
( حضرت ص ) وویل .
« هر چېري مې چه بیائې حاضریم ! »

هغې ښځې ( حضرت ص ) دیوې کوڅې خوله ته بوتله او همغلته ور سره کېناستل او په‌خبرو باندې‌ئې پیل وکړ . تر څو چه دغې ښځې له ( حضرت ص ) سره خبرې کولې ( حضرت ص ) همغلته ور سره ناست و . کله چه د هغې خبرې پایته ور سېدلې نو ( حضرت ص ) تري پاڅېد ( ۲ ) .

یوه صحابیه چه ( مخترمه رض ) نو میده یوه ورځ ئې خپل ځوی ( مسور رض ) ته وویل :
« راځه چه د ( حضرت محمد رسول الله ص ) بحضور مشرف شو چه »
« هغو یته له کوم ځای څخه ټکری راغلی دی او دوی ئې پرخلقو تقسیموی . »

کله چه دوی د ( حضرت‌نبوی ص ) مسجد ته ور غلل . ( حضرت ص ) کورته تشریف‌وړی و . ( مخترمې رض ) خپل ځوی ( مسور رض ) ته وویل چه :
« ( حضرت ص ) ته نا ری کړه ! »

ځوی ئې وویل : « مورې ځه‌دغې خبرې ور اولائق نه یم چه ( حضرت نبوی ص ) ته ناری کړم ! »
(مختر مې رض) وویل : « ځویه - محمد جبار نه دی ! »

دخپلې مورله جرئت ور کولو څخه ( مسور رض ) ( حضرت ص ) ته غږ کړ . او ( حضرت ص ) علی الفور له خپل کور څخه را ووت او د ه‌ته‌ئې ددیبا دغسې یوه قبا ور عنایت کړه چه د هغه تنې او تکمې له سرو زرو څخه جوړې شوی وې . ( ۳ )

یوه ورځ یوه انصاری د یوه جهودی له خولې څخه دغسې خبری واورېدې چه :
« پرهغه خدای باندې قسم یادوم چه موسی ته‌ئې پر ټولو انسانانو باندې فضیلت ور کړی دی ! »

دد غې خبری لـه اور بدلو څخه هغه انصاری دا سې خیال وکړ چه کو ندی دغه جهو دی پر ( حضرت نبوی ص ) با ندې تعریض کوی نوپری په قهرشو اویوه څپېړه ئې پر مخ و واهه هغه جهو دی ( حضرت‌نبوی‌ص ) ته‌عارض شو او استغاثه ئې و کوله . ( حضرت ص ) هغه انصاری راوغوښت او دد‌غې قضیې تحقیقات ئې و فرمایل او ور وسته ئې‌دغسې ارشاد وفرمایه چه :
« مانه پر انبیاؤ باندی فضیلت مه را کوی، ! (٤) »

دانسان دغرور اودترفع اصلي موقع همهغه وقت‌دی چه پخپل ښې او کینې اوورانډې او وروسته په زر هاؤ دغسې انسانان ووینې چه‌دده پر یوې اشارې باندې هر کار و کړی

---

( ۱ ) : په ( ابوداؤد ) کښې کتاب الادب وګوری، !
( ۲ ) : ( په‌ابوداؤد ) کښې کتاب الادب وګوری، !
( ۳ ) : د( صحیح بخاری‌شریف ) ۸۷۱ مخ وګوری، !
( ٤ ) : د( صحیح بخاری شریف ) په کتاب الانبیاء کښې دموسی ع ذکر و ګوری، !

تردي چه خپل ځانونه هم ور جار کړي او مخصوصاً په هغه وقتکښي چه دی دفاتحيت بحيثيت له يوه جرار او پر جوش لښکر سره په مفتوحه ښار کښي داخليږي - ايکن د (حضرت محمد رسول الله ص) دتواضع او د خاکسارۍ منظره پدغه وقتکښي لا ښه ښکاره او عيانيږي:

د (مکی معظمی) دفتحی پموقعکښي څه وقت چه (حضرت نبوی ص) په ښار کښي داخليده نو د [دغه فتح اوبرۍ له سببه تشکراًاو] تواضعاً خپل مبارك سر [د سجدي] په قصد دغو مره راښکته کړی و چه د اوښ پر کجاوی باندي لګيده (۱).

د (خيبر) دغزا پمو قعکښي څه وخت چه د (حضرت محمد رسول الله ص) مو کب دا خليده نو (حضرت ص) پر داسي خره باندی سپورو چه د لجام اود قيزی اودرسۍ پځای د خرماؤ کښي ئي د خرما دلښتي پوستکی و (۲)

پر کومی کجاوي باندی چه (حضرت محمد رسول الله ص) په حجة الوداع کښي سپورو تاسو ولوست چه هغي څو مره قيمت درلود (۳)

# له تعظيم او مفرطی مدحی څخه ممانعت

حضرت محمد رسول الله ص له تعظيم او مبالغه لرونکی مدحی څخه ممانعت فرمايه او له داسي تعريف او توصيف څخه نه خوښيده. ځکه چه د شرك پرمبنی مقدمه او د يبا چه دانبياؤ اود علماؤ مفرط اوله حده تير تعظيم دی . (حضرت نبوی ص) به د دغی خبري زياد لحاظ فرمايه - ولی چه د حضرت عيسی روح الله ع مثال ئی ترسترګو لاندی و . او تل به ئی داسی فرمايل چه : « تاسو ځما دغومره پمبالغي او افراط سره مدح او توصيف مه کوی ءا لکه چه نصرانيان د (بی بی مريمي) دځوی کوی . ځه خود الله تعالی بنده او استاځی يم (٤)»

(حضرت قيس بن سعد رض) وائی چه :

« يو ځلی (حيرة) ته ورغلم هلته مې وليدل چه خلقو به خپل مشر او رئيس ته سجدي کولی . کله چه له (حيرة) څخه بيرته راغلم نود (حضرت نبوی ص) پحضور کښي می دغه واقعه بيان کړه - او ور سره مي دغسی عرض هم دهغوی پحضور کښي وکړ چه :

« له خلقو تاسوته سجدي وکوی نو تاسو له هغو څخه دسجدي زياد استحقاق لرۍ ! »

(حضرت محمد رسول الله ص) ځما پجواب کښي داسی وفرمايل :

---

(۱) (دقاضی عياض رح) شرح شفاء اود (ابن هشام رح) سيرة وګوری !

(۲) په (مشکوة شريف) اخلاق النبی وګوری ء چه د ابن ماجه او بيهقی پحواله ئي نقلوی .

(۳) : ځمونږ د دغه « سيرة النبی» (٦١٢) مخ وګوری !

(٤) د (صحيح بخاری شريف) داول جلد (٢٩٠) مخ وګوری !

# د پښتو چاپ شوي کتابونه

(۱) پښتانه شعراء لومړی ټوك، لیکونکی عبدالحی حبیبی او ملګري.

(۲) پښتانه شعرا دوهم ټوك، لیکونکی صدیق الله رښتین او ملګري.

(۳) د پښتو سندرې لیکونکی محمد ګل مومند

( ) دزړي لباره « « «

( ) په پښتو پوهنې « کشککی برهان الدین

(٦) پښه سه « « «

(۷) اس زره لغتونه « محمد اعظم ایازی او ملګري

(۸) سپیڅلی پښتو « امیرمحمد کاکړ او حبیبی

( ) قواعد پښتو « محمد اعظم ایازی

(۱۰) پښتو به لومړی ټوك « مولوی صالح محمد

(۱۱) « دوهم « « « « «

(۱۲) د پښتو کلی لومړی « « امین الله زمریالی، خادم

(۱۳) « « دوهم « « « «

( ) « « دریم « د تالیف ځانګه

( ) « « څلورم « عبدالرؤف بینوا،

(۱٦) « « پنځم « ګل پاچا الفت

(۱۷) د پښتو کلی شپږم « صدیق الله رښتین

(۱۸) د کوچنیانو اخلاقی بابه مترجم قیام الدین خادم

(۱۹) نیکبختی لیکونکی ارسلان سلیمی

(۲۰) د پښتو نیك ښوونکی « محمد ګل نوری

(۲۱) د پښتو ښوونکی دوه جلد « محمد عثمان پښتون

(۲۲) خود آموز پښتو - « د ننګرهار ادبی مجلس

(۲۳) پښتو متلونه لیکونکی زمریالی، محمد قدیر تره کی

(۲٤) ملی هنداره دوه ټوکه « محمد ګل نوری

(۲۵) د خوشحال خان کلیات مصحح او ناشر عبدالحی حبیبی

(۲٦) د عبدالقادر خان دیوان « « «

(۲۷) پښتو از نقطه نظر فقه اللغة لیکونکی یعقوب حسن

(۲۸) په ځان پوهه مترجم ارسلان سلیمی

(۲۹) د پښتو اصلاحات او محاوری لیکونکی محمد ګل نوری،

(۳۰) لوی احمدشاه بابا مصحح او ناشر عبدالحی حبیبی

(۳۱) ملی سندری لیکونکی محمد ګل نوری

(۳۲) نوی ژوندون « قیام الدین خادم

(۳۳) پښتنی مېرمنې « عبدالرؤف بینوا

(۳٤) پټه خزانه د عبدالحی حبیبی ترجمه او تعلیق او څېړونه

(۳۵) ۱ ج سیرة النبی د کشککی برهان الدین ترجمه

(۳٦) پښتو ۱ ج «فوائد موضح الفرقان» «

(۳۷) پښتو ۲ ج «فوائد موضح الفرقان» «

(۳۸) پښتو ۳ ج «فوائد موضح الفرقان» «

(۳۹) ... د ... لیکونکی ګل پاچا الفت

(٤۰) لغوی څېړنه « « « «

(٤۱) د پسرلی نغمه « « «

(٤۲) ملی پسرلی عبدالحی حبیبی

(٤۳) د مېڼي مينه د راډيو د نشرياتو له خوا

(٤٤) دوه سره مین وروڼه محمد رفیق ...

(٤۵) د پښتو کلی لومړی لارښوونکی لیکونکی صدیق الله رښتین

(٤٦) دغرو وږی (منظره) عبدالرؤف بینوا

(٤۷) د پښتو ادبیاتو تاریخ تر اسلام دمخه اول ټوك عبدالحی حبیبی

(٤۸) پښتو سندری - لوڅوونکی «الفت»

(٤۹) د پښتو دادب تاریخ - مؤلف «رښتین»

(۵۰) د پیر محمد کاکړ دیوان - مدون او مقابله کوونکی «بینوا»

(۵۱) د میرویس نیکه تاریخ عبدالرؤف «بینوا»

(۵۲) د دار مستتر پښتو شعر بېښتو کوونکی عبدالحی «حبیبی» او «بینوا»

(۵۳) د ژوندانه لاری د ښاغلی «سیفی» ترجمه

(۵٤) خان جهان لودی « « «

(۵۵) ادبی فنون - عبدالرؤف بینوا

(۵٦) پښتو اشتقاقونه صدیق الله «رښتین»

(۵۷) د بوهانو افکار لیکونکی عبدالقدوس پرهیز

(۵۸) لنډه کی پښتو مؤلف محمد ګل مومند

(۵۹) عالی افکار مؤلف ګل پاچا الفت

(٦۰) روحی کلونه ښاغلی قیام الدین «خادم»

(٦۱) پښتو ګرامر - مؤلف صدیق الله «رښتین»

(٦۲) پښتو متلونه ټولوونکی محمد ګل «نوری»

(٦۳) پسرلني مشاعره پښتو ټولنه

(٦٤) ایك او ... لیکوونکی ګل پاچا «الفت»

(٦۵) پښتو سیند « «

(٦٦) پښتو مناظره پښتو ټولنه

پوهنه زیاده

د کابل په عمومي مطبعې کښې چاپ شو